انټرنېشنل جنرل آف

# پښتونخوا

جلد اول، جولائی/دسمبر ۲۰۱۶ء




په پښتو او انګریزۍ ژبه کښې د باچاخان چئیر

عبدالولي خان پوهنتون

شپږمیاشتنے ګڼ ارخیز تحقیقي جرنل

ISSN: (Online)

ISSN: 2519-7096 (Print)

**انټرنېشنل جنرل آف**

# پښتونخوا

**په پښتو او انګرېزۍ ژبه کښې د باچاخان چئير**
**عبدالولي خان پوهنتون**

**شپږ مياشتنۍ ګڼ اړخيز تحقيقي جرنل**

**شماره نمبر**: 1 **جولائي – دسمبر** 2016

**باچاخان چئير**

## عبدالولي خان پوهنتون

**خيبرپښتونخوا(پاکستان)**

**سرپرست اعلي**
پروفیسر ډاکټر احسان علي
وائس چانسلر
عبدالولي خان یونیورسټي مردان

**مدیر**
ډاکټر محمد سهېل
سیکرټري باچاخان چیئر
عبدالولي خان یونیورسټي مردان

**معاون مدیران**
ډاکټر سید ظفر الله بخشالي
ډاکټر نصرالله خان

**نائب مدیر**
اثر جان

# مجلس انتظامي


سرپرست اعلي: پروفېسر ډاکټر خورشید خان
وائس چانسلر
عبدالولي خان پوهنتون مردان

مدیر: (1)ډاکټر محمد سهیل خان
سکرټري، باچا خان چیئر عبدالولي خان پوهنتون
مردان
msohail@awkum.edu.pk

نائب مدیر: اثر جان
پښتو څانگه عبدالولي خان پوهنتون

پبلیکیشن آفېسر:

کمپوزنگ سیکشن: اثر جان (پښتو)
(انگلش)

بیغه: 300 روپۍ

پبلشر: باچا خان چیئرعبدالولي خان پوهنتون
یونیورسټي مردان

# مجلس ادارت


| | |
|---|---|
| ډاکټر جهانزیب خان خلیل<br>ډین آف سوشل سائنس<br>عبدالولي خان یونیورسټي مردان<br>Jehanzeb.regi@gmail.com | ډاکټر حافظ محمد انعام الله<br>اېسوسیټ پروفېسر، آئي اي آر<br>یونیورسټي آف پېښور |
| ډاکټر سید راشد علي<br>چیئرمېن، ډیپارټمنټ آف<br>سوشیالوجي<br>عبدالولي خان یونیورسټي مردان<br>Syed.rashid@gmail.com | پروفېسر ډاکټر رسول خان<br>انسټیټیوټ آف کېمیکل سائنس<br>یونیورسټي آف پېښور |
| ډاکټر عبدالشکور<br>ډیپارټمنټ آف انټرنېشنل ریلېشن<br>عبدالولي خان یونیورسټي مردان | ډاکټر ناصر<br>ډیپارټمنټ آف انفارمېشن<br>ټېکنالوجي<br>یونیورسټي آف انجینئرنګ اینډ<br>ټېکنالوجي پېښور |
| پروفېسر ډاکټر نصر الله خان وزیر<br>ډائریکټر<br>پښتو اکیډمي پېښور پوهنتون | پروفېسر ډاکټر نصیب الله سیماب<br>پښتو څانګه کوئټه بلوچستان<br>Nseemab902@gmail.com |
| ډاکټر بادشاه روم<br>(علي خېل درياب)<br>چیئرمین پښتو څانګه ملاکنډ<br>پوهنتون | ډاکټر محب وزیر<br>ډائریکټر پختونخوا سټډي سنټر<br>باچا خان یونیورسټي چارسده |

# مجلس ادارت قومي


| | |
|---|---|
| ډاکټر سید وقار علي شاه<br>ډین آف سوشل سائنس<br>قائداعظم یونیورسټي اسلام آباد | ډاکټر خادم حسین<br>ډائرېکټر<br>باچا خان ټرسټ ایجوکېشن<br>فاؤنډېشن پېښور |
| ډاکټر ناصر جمال خټک<br>وائس چانسلر<br>یونیورسټي آف هري پور | ډاکټر سلمي شاهین<br>سابقه ډائرېکټر، پښتو اکېډمي<br>پېښور یونیورسټي |
| ډاکټر فضل رحیم مروت<br>وائس چانسلر<br>باچا خان یونیورسټي چارسده | ډاکټر یاسین اقبال یوسفزے<br>چیئرمین، ډیپارټمنټ آف فیزکس<br>پېښور یونیورسټي<br>dryaseeniqbal@yahoo.co.uk |

# مجلس ادارت بین الاقوامي


| | |
|---|---|
| ډاکټر عبدالکریم خان<br>چیئرمېن ډيپارټمنټ آف آیشین سټډيز<br>یونیورسټي آف ماناوا ،<br>هوائي، یونائټډ سټېټ<br>khana@hawail.edu | ډاکټر موکولیکه بېنرجي<br>ایسوسي ایټ پروفېسر<br>سکول آف اکنامکس، لندن<br>یونائټډ کنګډم<br>m.banerjee@lse.ac.uk |
| ډاکټر عبدالظاهر شکیب<br>سینئر ریسرچ آفېسر<br>علوم اکېډمي کابل، افغانستان<br>zahirshakeeb@gmail.com<br>zahirshakeeb@asa.gov.af | ډاکټر فدا محمد<br>ډيپارټمنټ آف سوشیالوجي<br>یونیورسټي آف نیویارک<br>fida.mohammad@oneonta.edu |
| ډاکټر خلیل الله ارمړ<br>اکېډمي آف سائنس<br>کابل افغانستان<br>Khalil.ormar@asa.gov.af | ډاکټر سید محي الدین هاشمي<br>سینئر ریسرچ آفېسر<br>ډيپارټمنټ آف پښتو، کابل<br>یونیورسټي افغانستان<br>m.hashimi@asa.gov.af |

# فهرست



| شماره | عنوانات | مصنف | صفحه |
|---|---|---|---|
| 1 | پښتو افسانه او تنقید فقدان | نور الامین یوسفزے<br>زر محمد سنګر | 8 |
| 2 | د پښتو او سنسکرت د لفظي بسمو مماثلت | فیصل فاران<br>انور علي خان | 22 |
| 3 | د اجمل خټک افسانو کښې د ښځینه کردار فکري او تنقیدي جائزه | طارق خان | 48 |
| 4 | د ولي خان پۀ نثر کښې د متلونو او ټپو استعمال | ډاکټر ګل منیر<br>ډاکټر سید ظفر الله بخشالي | 65 |
| 5 | د خوشحال په قصائیدو کښې د مغلو ذکر | زر محمد سنګر | 82 |

# پښتو افسانه او تنقید فقدان

Noor ul Amin Yousafzai[*] Zar Muhammad Sangar[**]

**ABSTRACT**

Pashto fiction has completed its hundred years. Pashto fiction had started its journey from Kwanda Jeenaye written by Rahat Zakhili, but it has not achieved that position which it deserves because of the lack of criticism. In this article it is going to be making a way for the criticism in Pashto fictions.

تنقید او کره کتنه د ژوند د ارتقاء بنیادي ضرورت او په ادب کښې د تخیل سره سره د اکسیجن حېثیت لري. ځکه خو پوهان وائي یوه فنپاره په خلاء کښې نۀ تخلیق کېږي. دا د یوې نه یوې حادثې او واقعې د اثر لاندې وزېږېږي. د مروجه تنقید په غېږه کښې خاپوړې وکړي د ادبي قدرونو په سیوري پل واخلي او د نظر په سمي وده کوي. مطلب دا چې تخلیقي عمل لاشعوري خووي ولې غېر شعوري نه وي. نن چې پښتوافسانه د سلو کالو شوه. نورښتیا خبره دا ده چې زما په خپل دېرش کلن ادبي ژوند کښې په لومړي ځل دې پلو پام شو. په انساني ژوند او ادب کښې د تنقید اهمیت ته مې هم فکر لاړ او دې سره مې د

[*]Lecturer Department of Pashto Islamia College University of Peshawar

[**]Lecturer Department of Pashto Islamia College University of Peshawar

پښتوافسانې په سل کلن سفر هم يو ځغلنده نظر واچولو کله چې مې د افسانې په دغه سل کلن بهير کښې د افسانې په نوم بلها غېر افسانوي او غېر معياري مواد ته پام شو نو په دې نتيجه ورسېدم چې :

"دا د تنقيد فقدان دے چې مونږ د افسانې په پنگه کښې لکه د فارمي تماکو په بنډلو کښې د ښې پاڼې سره چوره او سوے هم ورگډ کړے دے.

که خبره د کره کتنې او معياري تنقيد راشي نو افسانه څۀ چې د پښتو ادب په هر صنف د معياري، عملي، فکري او جمالياتي تنقيد ډېر زيات فقدان دے چې بلها اسباب لري لکه د مطالعې فقدان، د پيشه ورو نقادانو عدم موجودگي په پښتو کښې د نثري ليکونو د لوست او مارکيټ مسئله، د تنقيد د بنيادي اُصولو او په نړۍ کښې د ادبي تنقيد د دوه زره کلن سفر نه بې خبري او داسې نور. ځکه خو نوموړے پوهان او نقاد قلندر مومند د پښتو ژبې د ليکونکي او لوستونکي په حقله وائي چې " د دې ژبې ليکونکي، ليکونه او لوستونکي له عصري تقاضو سره سمون نۀ لري او ځکه نو د دې مقصد د پاره وړومبے داسې ليکونکي پکار دي چې ورته په عامه ژبه کښې "پيشه ور ليکونکي" وئيلے شو. ځکه چې شوقيه فنکاران د ادب د ترقۍ لپاره منظم کوشيشونه نۀ شي کولے او که د ژبې مستقبل دې شوقيه ليکونکو ته پرېښودے شي نو ژبه او ادب به په خپل ځائے پاتې شي. مونږ د هغو ټولو لويو او کلاسيکي ليکونکيو احسان

> منډ یو چې د شوقیه لیکونکیو په حېثت ئې زمونږ ادب ته عظیمې بخښنې کړې دي خو د نن عصر تقاضا داده چې د ژبې د ترقۍ د پاره دې لیکونکي د یوې پېشه ورې طبقې په حېث منظم کوششونه اوکړي."1

کروچے وايي:

> "ښهٔ نقاد هغه دے چې یوه فنپاره خپل روح ته کوزه کړي او تخلیق نو ئې وکړي خو د دې مقصد لپاره پکار دي چې د نقاد علمي، حسي، الهامي، جمالیاتي او ذوقي سطح ډېره وچته وي."2

هم دغه سبب دے چې په شلمه پېړۍ کښې کوم شوقیه نثر نګاران، عالمان او نقادان زمونږ ژبې زېږولي دي هغوي هم یا خو اکثر په نظري تنقید کار کړے دے او یا ئې د کتابونو په سریزو کښې ښهٔ په نره عزیز ولي کړې ده. ځکه خو په اکثرو فسانوي مجموعو چې کومې سریزې لیکلے شوي دي. هغه زیاتې توصیفي، تاثراتي اوسطحي دي. لکه چې د تنقید په مېدان کښې نفسیاتي، ساختیاتي او مارکسي تنقید هډو چرته وجود نهٔ لري. او بیا په تشریحي، تاثراتي او جمالیاتي تنقید کښې هم د افسانو په هُنري او ژبنیز اړخ چا هم خبره نهٔ ده کړې.

دا ټولې سریزرې او مقدمې د عزیز ولۍ، تن آسانۍ او بې غورۍ ژوندي مثالونه دي. یو مثال ئې درته زهٔ د خپل ځان په حواله هم درکولے شم. کله چې زما د افسانو دریمه مجموعه "د اسونو باچائي" چاپ شوه. نو د هغې فلیپ اجمل بابا لیکلے وو. چې کتاب چاپ شو نو بابا ماته فون وکړو مبارکي ئې راکړه او راته ئې ووې چې هلکه تا خو ډېرې ښې افسانې

لیکلې دي ماخو اوس ولوستې. مطلب دا چې بابا زما په فن نه په ما لیکل کړي وو.

ما چې کله په خپله ژبه کښې د نظري تنقید په حقله د لیکلو شوو څو کتابونو جاج واخستو نو هم ډېر زیات مایوسه شوم ځکه چې په تنقید کوم کار زمونږ پوهانو کړے دے هغه هم اکثر یا خو ډېر سطحي دے او یا د نړۍ د نورو متعلقه کتابونو نقل دے. ځنو ډېرو عالمانو لیکوالو خو هډو اصل متن ته د لاس رسولو هڅه نۀ ده کړې او د اردو ژبې د ترجمو نه ئې په خلاص مټ استفاده کړې ده. د هغوي دغه کار او زیار هم د ستائینې وړ دے. (خو دغه ټول په انګرېزۍ ژبه نۀ پوهېدل، دوي کولے شو چې نېغ په نېغه ئې د عالمي ادب نه استفاده کړے وے. او بیا ئې د دغه افکارو په رڼا کښې د خپل زمینې او زمانې حقیقتونو په غېږ کښې د خپلې ژبې د شعر و ادب جاج اخستے وے. (د "مقدمه شعرو شاعري" او "شعر العجم" نه ئې په تلوار تلوار د مولانا حالي او شبلي خیالات راخستي دي او کتابونه ئې چاپ کړي دي. کوم چې د تن آسانۍ علامت دے) . د میا سېد رسول رسا ادبي تنقید د سحر یوسفزي ادب څۀ دے؟ د محمد صدیق روهي ادبي څېړنې د پروفېسر عارف نسیم ادبي تنقید د محمد افضل رضا ادبي تنقید د قلندر مومند ژباړلے کتاب "تنقید" دا ټول کتابونه ستاسو په وړاندې دي د دې ټولو تاریخي اهمیت په خپل ځائے د اولیت تاجونه ئې هم په سرونو پراتۀ دي خو د دې هر څۀ باوجود دا ټول د نظري تنقید اوپره او سطحي نمونې دي او د افسانې، ناول، تکل وغېره په حقله خو د" ادب څۀ دے" نه علاوه نور ټول بېخي غلي پاتې شوي دي.

حالانکې دا ټول ډېر عالمان فاضلان ليکوالان وو. دوي کولے شو چې د عالمي ادب نه د نېغ په نېغه استفادې نه پس ئې په پښتوادب کښې د عملي، فکري،اسلوبياتي، نفسياتي او نظرياتي تنقيد يوه مضبوطه رده اېښودے وے. زما په خيال د ځوان نقاد حنيف خليل "تنقيد په پښتو ادب کښې" چونکې د دغه ټولو نه پس ليکلے شوے دے. نو د هغوي په مقابله کښې د نظري تنقيد يوه غوره نمونه ده چې د کلاسيک په حواله د عملي تنقيد د نومونو خواږهٔ هم لري. خو دا کار هم ښاغلي صاحب شاه صابر په خپله پي ايچ ډي مقابله "د پښتو ادب په وده کښې د تنقيد کردار" کښې زيات په بشپړ صورت کښې ترسره کړے دے. که خبره ډېره اوږده نهٔ کړو نو دا به اووايو چې د پښتو ادب جولۍ د نوي تنقيد په حواله بېخي خالي ده. نن زمونږ فکشن هم د چا داسې نقاد لاره ساري چې هم د نړۍ په تنقيدي سرمايه پوهه وي او هم د جديد ادبي رجحاناتو "سوريالزم، ټرانسنډېټلزم، سمبوليزم. ساختياتي او قاري اساس تنقيد" نه په پوره ډول خبر وي . د دې سره سره چې د پښتو ژبې او ادب اود شلمې صدۍ په خپلو روايتي رجحاناتو ئې هم ښهٔ جوښت نظر وي. خو مونږدومره تن اسانه يُو چې دا خو لا پرېږده مونږ خو د نظري تنقيد په مېدان کښې هم د ډاکټر جميل جالبي او محمد علي صديقي د پائې نقادان هم پيدا نهٔ کړے شو.

په نظرې تنقيد کښې ښاغلے سحر يوسفزے لومړے سړے دے چې په خپل کتاب"ادب څهٔ دے" کښې ئې د افسانې په فن او فني رغاونه خبره کړې ده. د دې نه پس پروفېسر محمد افضل رضا "د پښتو افسانه" په نوم يوه روايتي شان مقاله وليکله. چې د کالج د سطحې د يو درسي کتاب درجه لري البته د اروابناد ګل افضل خان "د افسانو افسانه" د افسانې د

فن په حقله د نظري تنقيد يوه غوره هڅه ده. دې لړ کښې د" قند" مردان "افسانه نمبر" **۱۹۵۹**ء هم د نظري ، عملي، فکري او جمالياتي تنقيد ځينې غوره نمونې لري. د ارواښاد ډاکټر محمد اعظم اعظم "پښتو افسانه تحقيق او تنقيد" چاپ ملت پرنټرز **۱۹۸۲**ء پېښور البته د جمالياتي ، فکري، اسلوبياتي او عملي تنقيد يو علمي او معياري کوشيش دے. د ډاکټر زبير حسرت "نقش " چاپ . زرپاڼه پرنټرز پېښور ۲۰۱۰ء هم د ځنو اهمو افسانه نګارو د فن او اسلوب په حواله ډېرې ښې نکتې بيانوي چې د ستائنې وړې دي خو دا ټولې هڅې او ټول کوشيشونه د افسانې د سل کلن بهير په حقله د لوستونکيو تنده نۀ ماتوي.

په پوهنتونو کښې چې د تېرو لسو دولسو کالو راهيسې ځنو څېړنکارانو په پښتو افسانه تحقيق کړے دے په هغې کښې د ښاغلي محب وزير په پښتو افسانه "د نائن اليون اثرات" د مېرمن انيتا اعظم د پي ايچ ډي مقاله "په پښتو افسانه کښې د مېرمنو ستونزې" د ذکر وړ دي. خو د دغه سندي تحقيق خپلې تقاضې او خپل حدونه وي بيا دغلته بنيادي مقصد تحقيق او څېړنه وي. تنقيد پکښې داسې وي لکه په اوړو کښې مالګه او دغه تنقيدي بصيرت هم يو محقق د متن د صحت او غير صحت او د شهادتونو د چاڼولو لپاره پکار راولي. همدغه وجه ده چې ښاغلے محب وزير د خپل تحقيق په نتيجه کښې کنفيوز شوے دے. او دا فيصله ئې نۀ ده کړے شوې چې هغه يو محقق دے او که نقاد. د يو محقق کار خو دا وي چې هغه د راتلونکيو او نورو څېړنکارانو لپاره لارښود شي او هغوي ته د خپلې لارې د خنډونو او ستونزو خبره هم وکړي او د زير تحقيق موضوع په حقله ورته د تحقيق ځينې نوې لارې او نوې لورې هم په ګوته کړي. ځکه چې کله کله په يوه موضوع کښې د تحقيق دومره کار

وي چې يو محقق دغه هر اړخيزه کار او د دغه غټې موضوع ټول ضمني موضوعات نشي راقابو کولے. خو زمونږ محقق د دغه کار په ځائے افسانه نګارو ته د نائن الېون په حقله د معياري افسانو ليکلو چل ښودل غواړي.

که مونږ د پښتو افسانې ابتدائي دورې ته لاړ شو نو دغلته زمونږ افسانه نګارانو افسانې خو ليکلې دي خو تر کال ۱۹۵۰ ء پورې ئې د افسانې په فن او هم عصرو افسانه نګارانو په تخليقي عمل او توان څۀ د ذکر وړ کار نۀ دے کړے.

"ابتدائي لس شل کاله خو سړے دا وئيلے شي چې دا ابتدائي زمانه وه او لا زمونږ افسانه نګار د افسانې د فني نزاکتونو سره په پوره ډول بلد نۀ وو خو وروستو هم د اولسي ادبي جرګې په تنقيدي نشستونو کښې چې د دغه وخت زمونږ ليکوالو په اجلاسونو کښې په وړاندې شوو افسانو کوم تنقيدونه کړي دي. دا ښائي چې دوي په افسانه اوس د خبره ښۀ رسېدلي دي ولې د حېراتتيا خبره دا ده چې کله هم هغه افسانې په کتابي شکل کښې مخې ته راغلې دي نو هم هغه پوهانو پرې روايتي شان سريزې ليکلې دي. د افسانه نګار سره ئې کۀ نظرياتي اختلاف را پېدا شوے دے نو هلته ئې ورسره ګزراه نۀ ده کړې خو د افسانه نګار د فن په جمالياتي(هُنري) اړخ، تخليقي توان، ژبه او اسلوب ئې بېخي خبره نۀ ده کړې. نۀ ئې د زېرِ تبصره افسانه نګار افسانه د نړېوال افسانې سره تقابل کړې ده. لکه د مثال په توګه د "ګجرې" په مقدمه کښې

ښاغلے دوست محمد خان کامل د ښاغلي قلندر مومند د افسانې په تکنیک، ژبه، فن او نظریه فن په حواله په څو افسانو خبره کړې ده. خو ډېر زر ئې ځان په دغه لړ کښې په دې جمله خلاص کړے دے چې او بیا دا چې دا ټولې افسانې د اولسي ادبي جرگې تنقیدي اجلاسونو کښې اورولے شوي دي او کم و زیات تنقید نه پس له فني نقطه نظره کامیابې گڼلے شوې دي."3

همدغه شان چې کله فضلِ حق شېدا په "چار گل" سریزه لیکي:

"نو د لویدیز ادب نه د اگاهۍ باوجود د خپلو خبرو ابتداء د دې عجیبه خبرې نه کوي " دا وړې قیصې یا افسانې شاید ځینې نقادان به ورته افسانې وو نۀ وائي."4

حالانکې لنډ والے یا اوږدوالے د افسانې افسانویت لپاره څۀ خاص معیار نۀ دے . د افسانې په بنیادي شرطونو کښې خو ښائسته ژبه، وحدتِ تاثر، کلک ودلے شوے پلاټ، زمان او مکان علت او معلول وغېره د اهمیت وړ دي. زمونږ دغه سریزه نگار کولے شوچې د "چار گل" په ژبه فني غوښتنو، تېکنیک او فني معیار ئې خبره کړے وے او دا ئې راتلونکو نقادانو ته ښودلے وے چې د یوې افسانوي مجموعې هر اړخیزه جاج به څنگه اخلو.

دا سې به دوي د تنقید د صحت مند روایت اومړې تیگه اېښودې وه. زمونږ د لومړي دور ځینو ډېرو نمائنده افسانه نگارو هم د روح عصر په سمي او د وخت د نزاکت سره سمې ځینې داسې افسانې هم لیکلې دي چې د ژوند او نظریې په خاطر ئې د فن په مرۍ گوتې اېښودې دي. او خپله افسانه ئې په ژوند او نظریه قربان کړې ده. دغه وخت قام په حالتِ

جنګ کښې وو. خو زمونږ نقادانو په مثبت انداز کښې د دغه عمل جاج اخستلے شو. هغوي هڅه و په دغه اړخ ځانونه شپېلے کړي دي. او که چرته ئې نيوکه کړې هم ده نو هغه بې ځايه او غلطه ده.

د پښتو لومړۍ افسانوي مجموعه "پلوشې" باندې سريزه اجمل خټک بابا ليکلې وه. په دغه سريزه کښې بابا د افسانې په فن او تکنيک ډېرې زړۀ پورې خبرې کړې دي. د افسانې په نړېواله ارتقاء ئې هم ښۀ علمي بحث کړے دے. خو که په دغه سريزه کښې نيشته نو هغه د نادر خان بزمي په فن او د "پلوشې" په اسلوب خبره نشته . بابا چې د افسانې د وحدتِ تاثر او تخير په حقله کوم مثالونه وړاندې کړي دي پکار دا وه چې د "پلوشې" د هرې افسانې جاج ئې هم د دغه ميعارونو په رڼا کښې اخستے وے. داسې به د يو پوهه سړي په لاس د يو مضبوط تنقيدي روايت ابتداء شوې وه.

د دې نه پس چې چا هم په افسانه قلم وچت کړے دے نو د عملي، فکري او فني تنقيد او د افسانه نګار د فني کمو په ګوته کولو نۀ ئې قصداً ډډه کړې ده. دغه عمل د پښتو افسانې لوئے نوم زېتون بانو بي بي ټولو افسانوي مجموعو سره هم سريزه نګارو کړے دے. او هسې ئې ځان خلاص کړے دے. البته د ښاغلي طاهر افريدي او فاروق سرور په کتابونو چې کومې سريزې ليکلے شوي دي په هغې کښې د کار مواد په لاس راځي. ولې په مجموعي حېث که چا د چا ستائينه هم کړې ده نو دا کار ئې هم په سائنسي بنياد نۀ دے کړے او نۀ ئې د خپلې دعوې په دليل کښې د افسانه نګار د فن نه څۀ مثال ورکړے دے. د پښتو ځنو مجلو دې لړ کښې ډېر کار کړے دے. د "قند" نه علاوه د اووه ورځني "رهبر" افسانه نمبر هم د کار څيزونه دي. خو دغه عمل ته دوام نۀ دے ورکړے

شوے. پروفېسر اسیر منګل چې د پښتو افسانې په حقله کوم کتاب لیکلے دے د هر پښتون محقق کار ئې اسان کړے دے. خو د نقادانو کار لانقادانو ته پروت دے. نن ضرورت د دې خبرې دے چې زمونږ نقادان د پښتو افسانې په دې پړاؤ یو څو سنجیده قدمونه واخلي لکه د مثال په توګه

1. د پښتو افسانې د دغه سل کلن بهیر نه د پښتو باقاعده او نمائنده افسانه نګاران را بیل کړي. ځکه چې د محقق کار خو دا وو چې که چا یوه افسانه هم لیکلې وه هغه هم د افسانه لیکونکي د نوم سره محفوظ کړې ولې د نقاد کار دا دے چې د دغه بهیر او دغه کاروان نه هم باقاعده افسانه نګاران را بیل کړي او هم د دغه نمائنده افسانه نګارانو د فکر او فن غېر جانبداره تجزیه وکړي. بیا ئې د نړېوالې افسانې سره تقابلي جاج واخلي او دا پرېکړه اوکړے شي چې تر دې دمه څومره افسانې لیکلے شوي دي. هغه د دې جوګه دي چې مونږ ورته باقاعده افسانې وئیلے شو او د نړۍ د نمائنده افسانو په قطار کښې ئې کېښودے شو.
2. دوېم دا چې افسانه نګار باید تنقید په رونړ تندي اوزغمي ځکه چې دا هم د افسانه نګارو ذاتي، فني ژوند لپاره او هم د افسانې اجتماعي اړانې لپاره ضروري ده.
3. دا به هم کتل پکار دي چې په شلمه او اوس په یویشتمه پېړۍ کښې په نړېوال کچ په ادب کښې کوم جدید رجحانات راغلي دي. دغه ټول زمونږ افسانې په خپله خېټه کښې ځائے کړي دي که نه؟

4. د کال نولس سوه ایتا نه را په دېخوا چې پښتو افسانه د هیئت، اسلوب او موضوع په حواله د کوم بدلون سره مخ شوې ده په دې نړېوال کلي کښې د علامت نګارۍ او جدیدیت سره سره چې د نوي سرمایه دارانه نظام د ځان ځاني په غېږه کښې د انساني قدرونو کوم زوال رامخې ته شوے دے. زمونږ افسانې دغه ماده پرستې، جنګ پرستې، د عدم تحفظ احساس او د انساني رشتو د تقدس زوال په خپل نازک وجود کښې د فني نزاکتونو سره ځائے کړے دے. نن چې د پېداوارۍ حالاتو او آلاتو بدلون د کوم سماجي او سیاسي بدلون تقاضا کوي آیا زمونږ غونده وروستو پاتې هېوادونه او د دغه هېوادونو سماجي، ادبي او سیاسي مشران د دغه بدلون احساس او ادراک لري. دغه عبوري کلتوري بحران چې ځان سره د قدرونو ماتېدو او رغېدو کوم عمل راوړے دے. دغه بحران سره د Tussel په صورت کښې چې کومه اجتماعي بې حسي، مایوسي او د دغه بې حسۍ او مایوسۍ نه کوم عجیبه مزاحمت راپېدا شوے دے. د دغه عمل لپاره چې کوم سائنسي اپروچ او کلتوري ادراک پکار دے ایا زمونږ افسانه نګار ئې لري د یو پوهه انسان په حېث ئې تجزیه کولے او بیا ئې د خپل تخلیقي توان او عمل برخه ګرځولے شي. دې سره سره ئې په افسانه هم موږ کلک دے که د افسانې په ځائے د مضمون لیکلو هڅه کوي.

5. په پښتون وطن کښې چې د عالمي سامراج او د هغوي د دلالانو لوبې کوم عجیبه صورت اختیار کړے دے. پښتون افسانه نګار د دغه لوبې لړمون ته ورکوز شوے دے او که نه.

دا او دا قسم نور بلها سوالونه زمونږ د افسانه نګارانو او نقادانو لارې ساري. کله چې د سماجي ادارو نه ساه اوځي . نوي او زاړهٔ اقدار په حالتِ جنګ کښې شي نو د ادبي نقاد او تخليق کار په اوګو ډېرې درنې ذمه وارئ راپرېوزي. هم دوي به قام د دغه مصنوعي مرګ نه را ژوندے کوي. هم به د افسانې د فني کړهٔ وړهٔجاج اخلي او هم به ئې د فکري او عمراني نقطه نظره تجزيه کوي چې هم دا د وخت ضرورت او روحِ عصر تقاضا ده.

# حوالې


1. مومند، قلندر، میزان، زرپاڼه پرنټرز پېښور، ۲۰۰۸ء،ص ۱۸۲ – ۱۸۳ .
2. جالبي، جمیل، ډاکټر، ارسطو سے ایلیټ تک،بي آیي پرنټرز راولپنډي، **۱۹۷۵**ء، ص ۸۰
3. مومند، قلندر، ګجرې، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، **۱۹۵۸**ء، ص ق
4. خلیل، همېش، چار ګل، دارالتصنیف پېښور، منظور عام پرېس، فروري **۱۹۷۳**ء، ص ۱۳

# کتابيات


1. بزمي، نادر خان ، پلوشې، اکوړه خټک، ۱۹۵۰.
2. اعظم، محمد اعظم، پښتو افسانه تحقيق او تنقيد ، ملت پرنټرز پېښور، ۱۹۷۲ء،
3. يوسفزے، سحر، ادب څۀ دے. الکتاب پرنټرز پېښور، کال ۱۹۲۷ء
4. صابر، صاحب شاه، ډاکټر، د پښتو شاعرۍ په وده کښې د تنقيد کردار، عامر پرنټرز پېښور، "خورونکي امارات ادبي ټولنه دوبۍ مرکز" جنوري ۲۰۱۵ء.
5. خليل، حنيف، ډاکټر، تنقيد په پښتو ادب کښې، غزنوي پبلشرز کوئټه، اګست ۲۰۱۱ء.
6. رسا ، سيد رسول، ادبي تنقيد ، يونيورسټي بک اېجنسي کابلي دروازه پېښور
7. ګل افضل خان، د افسانو افسانه، يونيورسټي بک ايجنسي کال ندارد.
8. حسرت، زبېر، ډاکټر، نقش، زرپاڼه پرنټرز ، پېښور، ۲۰۱۰ء
9. وزير، محب، په پښتو ناول او افسانه، عامر پرنټر اېنډ پبلشرز، پېښور
10. منګل، اسير، د پښتو افسانې سل کلن بهير، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، اکتوبر ۲۰۱۳ء.
11. خليل، همېش، چار ګل، دارالتصنيف پېښور، منظورِ عام پرېس ، کال فروري ۱۹۷۳ء.
12. رضا ، افضل، پروفېسر، افسانه تحقيق تنقيد او فن، عظيم پبلشنګ هاؤس، پېښور،
13. راز، سليم، ادب او تنقيدي مسائل، خپرندوې کلاسيک خپرندويه ټولنه ننګرهار، ۲۰۱۲ء.

# د پښتو او سنسکرت د لفظي بسمو مماثلت

Faisal Rehman Faran[*] Anwar Ali Khan[**]

**ABSTRACT**

Pashto and Sanskrit both are the languages belong to the Aryans and both are so nearer to each other. that's why many researchers have found similiarities between these languages. Even professor Marginstin has written a dictionary as well. In this writing the researcher has collected some new words which contribute to philology and which get more closers both pashto and Sanskrit.

د نومورې ژبپوهان جان بيمز له رويه د ژبو د نړيواله ډله بندۍ کښې د هند يورپي ډلې ذيلي څانګه الباني ډلې نه هند اريائي ، پشاچي او ايراني ډلې راوتي دي. بيا هند اريائي ډله کښې سنسکرت او پراکراتونه هم راځي او ايراني ډله کښې بلوچي، پښتو او فارسي ژبې شاملې دي. خو د ژبو د يو عام منلي شوي ويش له کبله کوم چې ژبپوهان جي اے ګريرسن کړے، د پښتو برخه ئې ايراني اريائي ژبو په ډله کښې کړې ده. ګرئيرسن هند اريائي ژبې درې برخو کښې وېشلي دي. - ايراني اريائي - پشاچي اريائي - هند اريائي پښتو نه يواځې هند اريائي ډلې د

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar
** PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar

پښویه خاصیتونه لري ولې ورسره د دراوړی دډلې د ټ، ړ، او ڼ غونډې غږونه لري.

"دې سره سره د څ (Ts) غږ د آرمیني او تث (څ) عبراني غږ دغه غږ فونیقي او ایمبرک غږ تز (Tz) سره هم یو شان والے لري. دغسې د (ئے) غږ د پامیري، فونیقي (ds) آرمیني (Dz) او یوناني زیټا سره هم یوشان والے لري. دغسې د ږ غږ (Jz) د (ژ) نه دروند او په توپیر باندې د ے۔"1

دغسې ښ غږ د ش او خ له مینځه څخه د ے چې نور قاموته ئې صوتي ادراک نشي کولے، ځکه ئې سیوائي غږګنې اګرکه دا سوچه د پښتو خپل غږ د ے او ډیپ تهروټ نه وځي دغسې د (ث) او د (غ) غږونه د اوستائي ژبې سره یوشان دي. دا لفظونه پهلوي ژبې سره هم یو والے لري ځکه دغه دواړه حرفونه هم مونږ عربی نه اخستنه نشو ګڼلے. دا د پښتو خپل غږونه دي ولې د (ح، ط، ظ ، ص، ض او ع ) غږونه د عربی ژبې اغیزه ده. ګویا د غږونو له رویه پښتو د نړی ژبو کښې ځانګړے ارزښت لري. دا هم ځکه پښتو بیلا بیلو پوهانو بیلا بیلې نظرئې هم وړاندې کړي دي. لکه پوهان پښتو انډو تیوټانک ډلې سره انډوجرمانک ډلې سره د ژند او پهلوي ډلې سره نزدې ګڼې ځنې پوهاند لکه ختیځ پوه ډاکټرارنسټ ټرمپ پښتو هندي آریائي ډلې سره ګڼلې او ورته ارګجه هندي وائي دا پخوا زمانې نه راروانه داسې مستقله ژبه راښائي چې لومړے سر کښې د هندي ایراني ژبو نه رابیله شوې ده. څه دغسې پوهاند والټر بیلیو هم کوي چې پښتو د سنسکرت ژبې خور ده خو د پاړسو اغیزه د پارس ګاونډ کښې دپښتنو د هستوګنې له کبله وباندې شوې ده.

"په دې حقله پوهاند فون سپيګل ، پوهاند هارنل او ډاکټر هنري هم پښتو کښې د اوستا او سنسکرت دواړو ژبو خاصيتونه ويني او درې واړه ژبې د يوې سرچينې څخه راوتلي مني-"2

څومره پورې چې د سنسکرت ژبې خبره ده نو دغه ژبه د هغۀ ژبې نه ډېره بدله ده کومه چې په رګ ويد کښې استعمال شوې ده هغې ژبې ته به ئې غربي آريائي ژبه وئيله او په "اديچيه "به نوميده. دغه غربي آريائي ژبه اديچيه چې د آريائي ليږدني او خوريدنې نه پس د هندوستاني اولسونو په خله راغله نو ډېره څۀ بدله شوه يو خوا د دې په تلفظ بل خوا په حرفونو هم د دراوړې ژبو آغيزه پريوته بيا چې سلګونو کاله پس نور ويدونه وليکلے شو او د دې سپيناوے رڼاوے پيل شو نو يوه بله ژبه" براهمنه" راوۀته بيا د دغه براهمنه ژبې هم ستهرائي اوشوه. د دې ستهرائي نه سنسکرت ژبه راپيدا شوه چې ورته "ديوبهاشا" هم ځکه وائي . سنسکرت ژبه درې پړاونه لري. ۱ د ويدونو ژبه -(رګ، يجر، سام اتهر) ۲ د پانيني د ګرائېمردکتاب اشټ ادهائے او براهمنو ژبه ۳ د مهابهارت او رامائن ژبه دا خبره ياد ساتل پکار دي چې سنسکرت د آرياو يرغلګرو ژبه ګڼلے کېږي يعني هغوئي چې کومه ژبه وئيله چې د هغې نه پراکرتونه اووت يعني ځائيګې ژبوسره ئې اختلاط اوشو او بيا پانيني ئې صفائي اوکړه مطلب دا دسنسکرت ژبه د ويدونو د ژبې نه هم ډېره بدله شوې ده. پانيني د لفظ په بسمه چې ورته" دهاتو "او هغه نه بدليدونکو لفظونو چې ورته" نپات" وائي خبرې کړي دي خو د لفظ په خپلو توکيو کښې عملي ويش ته ئې پاملرنه نه ده کړې. تاريخي اړه باندې ډاکټر سنيتي کمار چتر جي چې د آرياګانو هندوستان راتګ په کومو درې برخو ويشلے هغې

کښې د ویدک سنسکرت دور درې نیم زره کاله(3500) وړاندې او د پراکرتونو او پالي ژبو دور شپږ‌ویشت سوه(2600) کاله وړاندې دے او ما چې دې مقاله کښې د کومې سنسکرت لغت نه اخسته کړې ده هغه د آرتهر انتهوني میکډونلډ لغت دے کوم چې هغه د پروفیسر فریډرک میکس مولر په مشاورت مرتب کړے دغه لغت د پوسټ ویدک سنسکرت په بنیاد مرتب شوے ځکه یعني دغه دویمې دورې شپږویشت کاله وړاندې رامینځ ته شوي سنکرت سره تړون لري. ښکاره ده چې دې دوران کښې به څومره لرغوني لفظونه د" نخت" ښکار شوي وي او څومره څه به د هندوستان د نورو ژبو سره ګډ وډ شوي وي او د ویدونو د ژبې نه به مختلف شوي وي. میکډونلډ خپله سریزه کښې دې حقیقت ته داسې اشاره کوي.

> "This Dictionary is intended supply the vocabulary of the post Vedic literature in general but it also includes such selection of Vedic are readily accessible to the students."3

یعني یو خوا خو دا په پوسټ ویدک لټریچر اډانه لري. بل خوا ځیني ویدک لفظونه راخلي چې دائي یوه اضافي خوبي ده. ماخپله دې مقالې کښې د K, GH, KH او G د نسبتاً لږو لفظونه لرونکیو حرفونو پټی وکتلې او دغه لفظونه مې پښتو سنسکرت کښې ورته اولیدۀ. کېدې شي په ژور نظر کتلو نه پس دې پټو کښې نور هم لفظونه پیداشي. د عربی غوندې سنسکرت کښې هم د لفظ جُز ته رسائي په عامه توګه ګرانه نه وي خو لکه څنګه چې اووئیلے شو چې دا لغت پوسټ ویدک لټریچر نه اډانه شوے ځکه هغه پرې ویدک، کلاسیک او ویدک سنسکرت ځیني بنیادي لفظي بسمي کومې چې پښتو کښې مونډے کیږي دلته نه

مونډلے کيږي. د اردو د لفظونو يوه لويه برخه دا هم ځکه په پښتو لفظونو اډانه ده چې دا هم د سنسکرت نه هندي او هندۍ نه اردو ته رادننه شوې خو د دې لفظونو دغه بنيادي بسمه سنسکرت کښې نه مونډے کيږي ځکه ميجر راورټي خپل پښتو انګريزۍ لغت کښې ليکي چې!

"د اردو ډېر توري د پښتو دي چې څومره پورې بله ژبه سنسکرت د دې سراغ نه وي مونډلے شوے، زۀ ئې سوچه پښتو اصطلاحات ګڼم۔"4

"Ga ( Going, moving"5

دا تورے پښتو څه سره ورته دے البته د دې بل ډول ګم (Gama)، پکارونه په هندۍ کښې بي دريغه ښکاري لکه

"ګون، ګمن، (کوچ) ګميه (د تلوجرګه) ګمي (مرغۍ) ګمنا ګمن (تلۀ راتلۀ) ګمت (لاره) ګمک (تلونکے) ګمن (چلند) ګمنا (ګښت) ګهاؤ (پهير) ګهينا (ګرځيده) ګهوم (تاؤيده) ګهير (چکر) 6"

د پښتو غونډې انګليسۍ ګو (GO)هم دې سره ورته دے دغسې د فارسۍ ژبې زينه (لکه پښتوکښې به ځينه وي) او ګام هم دې لفظ سره ورته ځکه ښکاري چې دواړه تګ او ښپو سره تړاو لري

"Gad (Recite, --speEk,say,address)7 "

دغه تورے د پښتو ګائيده، ګائيد سره ورته دے چې معني ئې خبرې کول دي۔ پښتو کښې د دې بنيادي بسمې ګائي يو شمېر لفظونه دي لکه

"ګائي (ژمنه، لوظ) ګائيدل(خبرې کول) ګويږ (پښتنه، تپوس) ګرويدنه (پوښتنه)، ګويږل (پوښتل، لټون)،

ګوښېدل، (بنګيدل) ګوڼ ګوڼ کول (غلي غلي خبرې کول (
ژمنه، لوظ) ګائيدل(خبرې کول) ګويږ (پښتنه، تپوس)
ګرويدنه (پوښتنه)، ګويږل (پوښتل، لټون)، ګوښېدل،
(بنګيدل) ګوڼ ګوڼ کول (غلي غلي خبرې کول)۔" 8

دغه تورے هندي ژبه کښې هم ډېر اوړيدلے راوړيدلے دے لکه ګيت (سندره) ګاتها(ستائينه، قصيده، نظم، سندره حال، ثناء) ګيتا (د هندوانو مقدس نظميه کتاب چې د کرشن ويناوې پکښې دي)

"ګدت (وئيلي)، ګدګه (خوشحالي ، خفګان غږ)
ګاتهک(سندرغاړے)۔" 9

د زيات خوند خبره دا ده چې دغۀ ګډ په کت اوړيدلے او د يو شمير لفظونو بنيادي بسمه ګرځيدلے لکه

"کتها ، ( وئيلې خبره، حکايت، قيصه، خبر، احوال)،
کتهت ( وئيلې شوي) کتهک، (داستان ويونکے، قيصه
مار) کتهنا ، کتهن (وئيل، ستائينه کول، شعر وئيل۔"10

پښتو يوه امروزه کيتي بيتي کښې هم دغه کتها او بيتنا لفظونه دي. کتهک نڅاهم دغه نامه ځکه لري چې دې ډول ګډا سره د خبرې او بيان عمل لازمي وۀ.

"Gabhas-ti (Arm, hand" 11

د سسنکرت د دې توري معني هر څو که لاس ، څنګل، دے خو پښتو کښې د ګيے يا کيے مطلب کيڼ لاس يا چپے لاس دے. دغه تاکنه د سنسکرت توري کښې نشته . بله دا توري پښتو کښې ګيے او کيے دوه ډوله لري.

"ګيے کيڼ لاس، چپے۔"12

"Gambhir-ya (depth , profound (Gabira (inscrutable, abymel)" 13

هندي کښې دا تورے د گهبير،گمبهير او گامبهير په صورتونو موجود دے. مطلب ئې هم دغه گور، ژور او دروند دے. خو پښتو کښې د دې بنيادي بسمه گمب يا گهب په غومب او جومب کښې بدله شوې ده او يو شمير لفظونه ئې داسې رامينځ ته کړي چې هم دغه د درې واړه معنې په څه نه څه طريقه لري لکه

"غومبک، (گڼ، گورفصل) غومباره (گڼ تريخ لوگے، گڼ پرله پسې آوازونه) غومبے ( راغونډمونډ)، جومپک، (ټل، زومبک، غومبک) جومبړ (هغه څوک چې ارتې اوږدې جامې ئې اغوستې وي)۔"14

غؤمبر يا غمبر جومپه يا جوپه جومپک ياجونپک يا ځونپک هم پښتو کښې ددې تورې اوښتې شکلونه دي سنسکرت کښې زيات زور په دروندوالي ژوروالي مونږ گورو چې دغه بسمه د گومب، جومب، غومب او زومب په بيل بيل صوروتونو کښې اوړيدلي راوړيدلي ده. ښائي پښتو توري غوپه هم د دې اصلي بڼه وي چې د دې توري مطلب ډوب دے.څنگه چې سنسکرت کښې مطلب ژور دې

"غوپه (غرق، ډؤپ، غوټه) غوپول، (غوپه کول، غوټه کول، ډوبول، اوبو کښې ننه ايستل) غوټه (غوپه، غرق، چپه، څپه، بريد ،)۔"15

"Gaya(House, Household, family)"16

داتورې فارسي ژبه کښې د جائے په صورت موندلے کيږي چې ځائے او گنجائش ته وئيلے کيږي، جائيداد ، جاگير، او جاره کښې هم دغه د" جا

"بسمه ده. په سنسکرت کښې د کور اوخاندان معني لري چې معني ئې دغه د سنسکرت توري سره ورته دي ځکه چې کور هم ځاے دے او کور کښې اوسیدونکي ټبر یا خاندان بللے کیږي . پښتو تورے ځائے بیخي نه یوا ځے دا چې سنسکرت توري ته یو شان دے بلکې سیوائي معني لري. ولې یو شمیر نور لفظونه هم دغه مناسبت باندې لرل د توري لرغونوالے ښائي. لکه

"ځائې، ټیکانه، مکان، مقام، درجه، وخت او موقع. ځائیګے، (د ځائې تصغیر نوم) ځائیګیر (دیره استوګن، اوسیدونکے) ځائے ناستے (جانشیني ، ولي عهد، بچے) ، ځایول، (ځائے پیداکول، خوندي کول، زغل، پیځل)۔"17

دغه بسمه جا د ځائي په بشپړه ډول پښتو په توریو کښې پرته ده ولې په هندي کښې ئې عمل دخل دومره نه ښکاري، البته د مونږ جګ او جګت چې دنیا معني لري د دې نه وتي لفظونه ګڼو نو په دې حواله ګڼ لفظونه شته دے خو دغه تورے جګ ډېر وروستے او لغوي معني ځائے لري.. اصطلاحي معني کښې اوښتے دے. هسې هم د لسانیاتو پوهان د ویدک او سنسکرت چې کومه بڼه ځان له ایښې وه هغه لیکلي بڼه وه او هغې سره ئې د ټکیو له رویه هم هغه غږونه پرتله کیږي کوم چې اوسنۍ زمانه کښې متعلقه ځایونو سیمو اولسونه ته وائي ځکه دې عمل هم د بې شمیره لفظونو تلفظ او معنو کښې توپیر به خامخا راوستې وي.

"Garata (Hole, ditch, canal)"18

د دې لفظ بنیادي بسمه ګړ ده. پښتو کښې یو شمیر داسې توریو کښې چې د اوبو یا د کندې او سوري سره نسبت لري دغه بسمه هم د ګړ او هم د جړ په اوښتي صورت شتون لري لکه! ګړے منګے، ګړونج، ګړوچے،

ګرماجي، ( دمنګي اېښودولو کټکې) ګړونګه (جړوبې) ګروی، (کوزګۍ) ګړوب (نرمه خټه) ګړوبې (هغه اوبه چې ویاله کښې وروستو بهانده ځي) ګرهل (متکه ، بالټې) ګړنګ (سیند کښې ژور ځائې، غرۀ کښې کنده)، ګریچې (زمکه کښې د نیالګې دپاره وړه کنده)، -- پښتو کښې ګړ په جړ هم بدلیږي لکه

"جړوبې (جړجړې)، جړی، جړې، باجړې، (چیکړې د باران خټې)، جړ جړ ( د اوبو توئیدلو آواز) جړوبی ، جوړ جوړی (ټوټې) جړوبې (آبشار)-"19

باجړ ( شړک شیبو باران)، باجړ البته په یو نیب نرے باران ته هم وائي. عبدالکریم عامر په پښتو لغات کښې لیکي

"زمونږ په سیمه کښې باجړ و هغه نري باران ته وائي چې مسلسل وریږي."20

دغه جړ د چړ په صورت بیخي زیات پښتو کښې استعمالیږي لکه

"چړپهار (د شړپ آواز) چړپیدل ( دمائعاتو ښوریدل) چړچوبی (جرچوبی) چړک (شړک باران، د اوبو توئیدلو آواز) چړکاؤ ( د اوبو ترونکه) چړچوبک (اوبلن) چړاوه (زیم، کاریز بند ترلو نه پس رسیدونکي اوبه) چړپن (څړپیدونکے ډک لوښے) چړ ( د باران شیبه، سیلاؤ، لاړه، د سیلاؤ لهر) چړول (پاشل) چړونګے (لږې اوبه)، چړونه (اوبۀ پاشنه) چره (دسیندنه راوتې ناله )څړوبن (اوبلن)، چړهار (شړهار)، چړ ( د سیند رغے ځائې) چړي ( کوهے تشول) چړچوبک، (اوبلن)"21

بل خوا دغه جړ او چړ په څړ هم اوښتے دے لکه

"ځړوبه، ځړوبے، جړوبے، ځړوروبے، ځړوبې ، (آبشار) ځړانګه ، (باران نه وړاندے د لړي سيلۍ بادونه او بريښنا)"22

هم دغه جړ ، ځړ او چړ په ځل هم ځيني لفظونو کښې بسمه شوے دے لکه

"ځلوبے (دپيريانو اوبه يا سراب)، ځلون ژۍ، رابيا ، ځل (سخته تنده)"23

هم دغه ځله هندۍ کښې د جل په صورت د بې شمېره لفظونو بسمه ده چې مطلب هم اوبه دي لکه

"جلا (ډنډ)، جل کنتهک (ناکو ياناکه)، جل بهر (وريتم)، جلته (کشتۍ) جل تهل (بوښته)، جلج (ملغلره)، جلانچل (چينه)، جلارنو (سيلاؤ، سيند)، جلابکا (کوهے)، جلاورت (غولۍ جل پتي ,سمندر) جلاکار (زيم)، جلالګا (ژور)، جل بدبد (بربوکۍ)، جل ګلم (شمشوتے)، جلک (خرمهره)، جلجات (برڅنډې ګل)، جلادهار (حوض)، جل کولي (بوينۍ)، جل لتا(چپه)، جلاهه (سمندر)، جلاسا (تلاؤ)"24

دې هر څه نه دا جوتيږي چې جر، چړ، ځر، ځل او جل هم يو لفظ دے. مطلب ئې اوبه دي او پښتو کښې ئې د سنسکرت په نسبت متنوع شکلونه ډېر دي چې د پښتو ژبې په پراخ صوتياتي نظام باندې ثبوت ورکوي. فارسۍ کښې هم جو، جوئے آب، لفظونه شته اوهم د جو لړ کښې د هندۍ جهړي، جهرنا ، جهړ (يونيب باران)، جهړبدلي (پشکال وريځ)،

جهلابور (طوفان)، جهابړ (بوښته، سخاډنډ ) هم د دې سلسلې لفظونه دي.

"Gala (Throat , neck)"25

دې توري کښې هم د پښتو سنسکرت له مخه دمعمولي بدلون شوے دے ځکه چې غاړه، غړې، غړانګه دژامي او تېر تر مينځ کندره ده. سنسکرت کښې ګلا سرڅټ ته هم وئيلے کېږي. فارسۍ کښې ګردن د کوزې هغه خم ته وائي چرته چې بره برخه شروع کيږي او ګلو ورته هم وائي. يعني دلته هم د غاړې اوڅټ توپير د پښتو غوندې مخامخ نه دے

"Gava (Ox "Gavya", Buffalo)"26

سنسکرت دې توري کښې د پښتو د غوا ، غوئي او مېښه غوندې معنوي توپير نشته دے. پښتو کښې ګ ټکے په غ اوښتے دے او غوا شوے او بيا يو شمير لفظونو کښې دا بسمه شوے دے.

"غوا بيژے (يوه خزنده)، غوا رودونې، غاوروي، ( يو ډول سمسميره چې غوا روي)، غوشايه، غوشان، غواګړے (سارانے بوټے)، غوالوشه ( لوغے) غوائے ژبے ( يو بوټے)، غوبانے، غوباړے، غوبل، ، غوبمنډ، غوائے ښکر ( يو بوټے)، غؤبلرګے، غوبليده، غوبه، غوبنے، غوبون، غوجل (ګورنډه)"27

دغه تورے د ګوپه صورت هم يو شمير لفظونو کښې شته دے لکه

"ګويول (جوتي کول)، ګوي د يوې غوه ګورنډه (غوجل)، ګوار، ګواره، ګورمه (غواګانو کنډک)، ګوټه (څپياکو ډهيرے)، ګوارچي (غوبه)، ګوجر (غواڅرونکے) ګويول (غوبے قلبې ته جوتي کول) ګوهار"28

بل خوا هندی ژبه کښې هم د ګوبسمه عام استعمالېدې لکه !ګوال (غواساتونکې)، ګوبر(غوشایه)، ګوبریلا (ځوټوګونګټ)، ګوپي (ګوجره جینی)، ګوپ (ګوجر)، ګوار (میښو غله)، ګوجر، ګوجرا، (غنمو جوارو دل) ګوشت، ګوچني (د غنمو چڼول)، ګورو (د ښکرونو ماتونکي ځناور)، ګوتاوه ((بوتاوه)، ګوپر فارسی کښې هم ګو، ګوساله، ګوس (سخې)، او ګوسفند (ګډ، پسه) ګډه (بېزه)، غؤندې لفظونه شته دے. یوه بله د خوند خبره دا ده چې پښتو کښې د غوګانو کنډک دپاره د ګورمه اصطلاح ده. دا اصل کښې د ګواؤ رمه دوه لفظونو مرکب دے.

"Gahana (deep,darkness, thick)"29

دغه لفظ پښتو توري ګڼ سره یو دے. ګڼ هم ډېر زیات، په شمېر زیات ته وئیلے کېږي او هم په دې نسبت هجوم یا اژدهام ته هم ګڼه ګوڼه وائي. پښتو کښې د ګڼ ډېر متعلقات دي. لکه

"ګڼ رنګې، ګڼتوب، ګڼ شمېر، ګڼکې، ګڼ ګور، ګڼ ګین (پسڼین)، ګڼول، ګڼوڼ، ګڼه خور، (ښیرازه ورشو)"30

هندی ژبه کښې هم یو شمېر لفظونه د دې لفظ نه وتي دي لکه

"ګهنګهور (تندر، ګڼه ورځ)، ګهن چکر، ګن دار، ګهنا، ګنت بدیا (ریاضي)، ګهناتمک (اوږدوالي، پلنوالي او ژوروالي کښې یوشانې (هر کله چې د ګهن دا ټکې (ن) په (م) اوړېدلے نو ګهمبیر (ژور، دروند)، ګهپت (ګهټے شوے)، ګهمسان (ډېر زیات، زبردست)، غوندې لفظونه هم مینځ ته شوي."31

هندی کښې ګن ' ډلې، جهنډ او ګلي ته هم وائي د ګڼ شمېر د تصور له رویه هم ځکه ریاضی ته ګنت بدیا وائي. پښتو هم ګڼل د شمیرلومعني

لري. يو څه چې ځومري ګڼيږي دومره زوريږي او غټيږي هم ځکه دې توري کښې په اصطلاحي معنو کښې سنسکرت دغه معني هم راوړې دي.

"Gira (Mountain) Giri ( The heavy ) mountain"32

پښتو کښې د ګ ځائے غ دے او د غر په نسبت يو شمېر لفظونه دي چې عام استعماليږي لکه

"غرګے، (غټ کاڼے)، غرګوټے(لويه ډهيرۍ ) غوړيشتے ، غرغښتے ( د غره تريخ بادام)، غروښت ( يو غرنے بوټے)، غروسمه (لوړوه ژوره) غرواښه ، غرنے ، غروال، غزيځے، غريچے، غريز، غرشين، غرميشتے، غړلړۍ."33

هندی ژبه کښې هم ګر، ګري، ګرراج، (د غرنو باچا)، ګردهاري ( د غره سختن)، ګرام (ګلے، ډله ، کهيړا) غوندې لفظونه شته دے . ښائي د ګهر، ګړهه، ګډهه لفظونه هم غره سره تړاؤ لري ځکه چې د بنيادم لومړے کور د غر مغاره يا سمڅته وه.

"Gataya (Joint , unite, huge closely) Ghataya (collect, assemble, strike)"34

دغسې نور لفظونه هم په سنسکرت کښې موندلے کېږي ، لکه ګهاټا، ګهټا ، د دې ډول لفظونو بنيادي بسمه ګهټ ده. پښتو کښې د دې مترادف لفظ غوټ دے ،

"غوټ (کلک، قوي) ته وائي غوټکے، (غونډموندہ، د غوټ مصغر)، ته وئيلے کيږي . غوټول (ځربول، لويول، سترول)، ته وئيلے شي."35

هم دغه لړ کښې غؤټه يعني ګنډه او ګره ده چې په ښکاره دي لفظ نه بدله ښکاري خو معنوي توګه باندې دا يو تورے دے. سنسکرت توري کښې د قوي او ګره دواړه معني واضحه دي-

"Ghatta (Bathing place)"36

يعني د ګهاټ ترون اوبو سره دے پښتو کښې ئې متراف د ګودر په صورت کښې شتون لري خو د ګهټ په بسمه هم ځيني لفظونو کښې ليدلے کيږي لکه د هندی دا لفظونه

"ګهټه (د ډنډ غاړه) ګهټے (منګے)، ګهټکار ( کوزه ګر)، ګهټا، (وريځ)، ګهټي نيتر(اريت)، مرګهټ (مسان)، ګهاټيا (سيند غاړې برهمن)"37

که وګورو نو د ګهټ بسمه لرونکي دا لفظونه ټول د اوبو سره نسبت ښائي. په دې حقله د پښتو دوه لفظونه ګټ (توره وريځ)، او ګاټه (وياله کښې اوبه کميده)، هم د پاملرنې وړ دي خو دا نسبتي معني ښکاري. داسې ښکاري پښتو لفظ ګودر برخه ګود هم د ګهات يا ګهت اوښتے صؤرت دي او در خو د دير مصغر ډول دے چې اوبه ته وئيلے کيږي . دې صورت کښې د ګودر مطلب د اوبو لاره وي ځکه چې ادبي کلاسيک سنسکرت کښې اوبو ته "دُرو" وئيلے کيده. د دې توري ځائے وروستي ويدک دور کښې دراوړي لفظ جل اونيولو. دراوړي نه اوبو دپاره د جل سره سره پانيه لفظ هم د دُرو ځائې نيولے دې. خو دير هندی ژبه کښې دوه ځايه د اوبو په نسبت راغلےلکه

"دير ګهکا (بوينې، زينه داره کوهے) او دهيور (ماهي ګيرو يو ذات)، خو ګهاټ هندی کښې د درياب لاره، د

سیند غاړه، معني هم لري او ګهاټا د غره خاته،او غرئیزه لاري ته هم وئیلے کیږي۔"38

پن ګهټ کښې هم پن د اوبه او ګهټ د ځائې معني ورکوي یعني د اوبو ځائې . دغسې هندی کښې اوبو ته پانیه او سنسکرت کښې هم پا څښکلو ګوټلو ته وائي چې هغې نه هندی لفظ راوتے دے. ځک دا ممکنه ده چې دا د ګودر وړومبی برخه دغه د ګهاټ وي. پښتو کښې هم د ګهاټا غوندې ګودر د لارې دپاره په تخصیص هم سیند سره پکاریږي لکه په سیند بې ګودره ګډیده، روګودر نه کاته، د ګودر سره یو بل څه "ولنګ "هم وي چې د وینځلو ځائې ته وئیلے کیږي. عبدالکریم عامر پښتو لغات کښې لیکي

"ولنګ د اوبو د ویالې یا کاریز په غاړه د ماجت، محراب رنګه ګردي ځائې چیرته چې نجونه اوبه ډکوي، کالي مینځي ،خپلې ناستې کوي او په یوه ګودر کښې دوه درې ولنګه کیدے شي."39

ګویا څه ته چې سنسکرت کښې ګهاټ وئیلے کیږي هغه پښتو کښې د ګودر دیو ځائې د ولنګ مترادف دے. د ګودر اوښتے شوے شکل په لفظ ګذراو عربی کښې په جسر هم قیاس کیږي. د دې ټکي ګودر سره تړاؤ نه ښکاري.دایو اتفاق کیدې شي.

"Gharma (Heat of sun/fire, Hot season) - Ghramsa (Heat of sun)"40

پښتو کښې غرمه او غارمه عام تورے دے . نیمه ورځ، بریځراو ګرمی ته وئیلے کیږي. د ګهه او غ اوښتون خو پښتو کښې غرمه واحد او غارمه

جمع لفظ دے. دا اختصاص سنسکرت کښې نشته دے. بل پښتو تورے لمر سره نسبت لري. ولې د سنسکرت لفظ د اور سره هم تړلے دے.

"Ghataya (Kill, destroy, defeat)"41

"پښتو کښې گټه د دې بيخي اپوټه معني سوبه، منافع معني لري. هندی کښې گهارت، نقصان، قتل وغارت ته وئيلے کيږي."42

"Ghush (Resound, fill with sound) Goshe (Loud, resounding) Ghosha, (Noise, cry, shout)"43

"هندی کښې دي نه وتي لفظونه عام ديلکه گهوس، اوچت غر، ډنډوره، گهوشينه، د نوموړتيا وگه ، گهوشن پتر، اشتهار، گهوش، زبادل، خورول، يادول."44

ولې پښتو کښې دغه بسمه په گنگوسه کښې شته دے خو د مطلب پټه يا غلي خبره هم ده.

"گنگوسه شهره، آواز، افواه، ښکالو، انگازه."45

"Ghona (Noise, Snout, Beak)"46

پښتو کښې هم دغه لفظ دغه ډول شتون لري خو معنو کښې ئې توپير دے. گونه، ځيره، رنګ، ښه، جوسه، گون، ځيره، يعني پښتو لفظونه د سنسکرت د دې و مخيزه معني لرونکي لفظونه بشپړ دي. پښتو محاوره کښې هم زنړه گونه، اوؤگونه، زيديده ژبه استعماليږي.

"Ghora, ( Awful, Sublime, dreadful, magic)"47

"پښتو کښې دغه لفظ د غوره په ډول شتون لري چې مطلب ئې هم دغسې پرتم، دبدبه، دوړه دباو ده."48

دې سره ورته لفظ غوره (Gwara) هم دے چې د هغې مطلب چاڼ شوے او ښه دے. په يوه حقله دواړه معنو کښې نژدې ده که چې غوره څيز هم اعلي او تاثير لري. دغه تاثير نورو معنو کښې دلته پرتم دے.

“Khavi, (Beauty, Skin, colour, splendor)”49

”دې توري چهوي سره په ورتوالي پښتو کښې د شيوه يا ښيوه تورے شته دے . ښيوه پښتو کښې ناز ادا، کرشمه، ډول سنګار ته وئيلے کيږي. فارسۍ کښې هم شيوه دا معني لري. هندۍ کښې چهوه مينه محبت، دوستۍ ته وئيلے کيږي.“50

نازادا، شان وشوکت، ډول سنګار، مينه محبت خپله کښې يو معنوي ارتباط لري. تاسو هوسا تبه لرئ **Facebook logo See Photos** کور پاڼې ته لاړ شئ سمون · ړنګول فېصل فاران افغان .

“Khelaka (He goat)”51

د سنسکرت دغه لفظ پښتو کښې هم عام پکاريږي او مونث چېلۍ هم شته لکه

” چيلے، کچيکے، سيرلي، د وزې يا نر ورغومے، د بزې بچے.“52

يو ډول وزه ښائي، د دې بسمه چهه وي ځکه سنسکرت کښې بُز ته چهاګ هم وائي.

“Khurika (Knife)”53

”چهوريکا پښتو کښې د چهوړکۍ، چړوکۍ، چړکۍ په نامه عام استعمالدونکے لفظ دے. چړوکۍ، چاړه،

چاړکۍ. هندۍ کښې هم چهريکا، چهر چاقو، چاړې، دپاره پکاريږي."54

("Khya) shadow'image,reflection"55

هندۍ ژبه کښې دغه لفظ د چهايا ، چهاؤن، په ډول موندلے کيږي. سنسکرت لفظ چهترا ، (چهتري) کښې هم دغه چهه بسمه ده . مشروم ته هم د چهترۍ سره په مشابهت سنسکرت کښې چهتراکا وئيلے کيږي. چنګه چې چهوۍ کښې بسمه چهو په فارسۍ پښتو، ښيو، شيو بدله شوي ښکاري، دغسې دلته هم دغه بسمه په پښتو لفظ سيوري کښې په سيو بدله شوې ده. څ او چ په يو بل باندې پښتو کښې بدليږي لکه اچکزۍ اڅکزۍ ، چاه، څاه، نو دلته که مونږ دا وګڼو چې سورے دراصل څيورے دے نو په اسانه د چهايا د چهه په څ بدلښت باندي سر خلاصيږي.

"Kakash (appear, see, look at)"56

"سنسکرت کښې چې د ليدنې کتنې کوم لفظونه معني ورکوي، دغو کښې د کس بسمه ده لکه کاکس ، (ځلک، د ځلک وجه) کاکش ( ليده ، کاته)، ککش انا (نظر) ککش ان (سترګه، روڼتيا)، کاکشور ( د سترګې ليدو وجه)، کاکشوش پتې ( د هم سترګو سختن)، کاکش وس، (کاته، نظر، سترګه)"57

د خوند خبره دا ده چې دغه کک يا کاک سنسکرت کښې مجرد لفظ نشته دے . هندۍ ژبه کښې نه دغه تورے او نه ئې متعلقه لفظونه شته. دې نه خو دا اندازه لګي چې دا د سنسکرت خپل تورے نه دے ځکه چې بسمه ئې مجرد حالت کښې نه موندلے کيږي. د دې په نسبت پښتو کښې

د سترګو ګاتي دپاره د سترګو ککې لفظ شته دے. ولې په زيات تخصيص د سترګو تور دپاره ککے لفظ استعماليږي.

"ګاتے، د سترګو ککے، د سترګو تور و سپين."58

"کسي ، د سترګو تور، ککي، ککۍ، (د سترګو تور، د سترګو کسي)"59

(هم په دغه بنياد باندې د صوابۍ د مندنړو محاوره چې څوک نهر توب کوي نو وائي چې هسې کسي دي راوؤځي.) هم د دې کسي په بنياد د کسل (کتل) کسنه (ليدنه کتنه) لفظونه شته دي. د ت اوث بدلښت عامه لساني قاعده هم ده. پښتو کښې زيات لفظونه بيا د کتل په نسبت دي لکه کتلے، کتنه، کتون، کتنوال، کوت (د کتل له مصدره د استمراري غائب صيغه ده) کتونکے، کتے، کتلي.

"هندۍ کښې بيا دا شوي چې ککش، په چکهه، چشو، (سترګه اوړيدلے دے چې د لساني تقليب زيات او تصحيف عمل غوره بيلګه ده. يعني يو خوا حرفونه مخکښې وروستو شوي. بل خوا د هه اضافه او د ش په چ بدليده. يعني دې نه داجوتيږي چې سترګه پردې بنياد څترګه ليکل پکارو ځکه فارسۍ ژبه کښې هم سترګي ته چشم د هندۍ چشو سره ورته دے. چشمه (چينه ، د ستنې سوم ،لمر ، فواره، چشمې دې ټولو توريوکښې د دحلقې تعقل دې)، چشمک، (سترګو اشاره، د سترګو څمب، وړه سترګه، رنجش)، هم دې نه وتي لفظونه دي."60

"Kar (Act, behave, move)"61

پښتو ژبه کښې دا کړ په صورت دے او یو شمېر لفظونه ئې موندلے کیږي. لکه

"کړه، کړهاند، کړے، کړنه، کړند، (تکړه کاریګر) کړاک (ځوریدنه)، کړان (رېږ)، کړاند (زیارکښ)، کړن (چاره، کارکړنه)"62

اصل کښې کړ فصلي ریښه ده چې کول ترینه جوړیږي.

"Kal (disturb, confused)"63

"پښتو لفظ کلار کښې هم دغه بسمه کل ده. هندۍ ژبې لفظونو کلپنا (غم نول کول)"64

کلاپ کښې هم دغه د کل بسمه ده. هندۍ کښې هم په دې بسمه نور لفظونه نه موندلے کیږي. پښتو کښې د کل بسمه لکه د ګټه غوندې د سنسکرت بیخي اپوټه شوي ښکاري، خو بل خوا هندۍ کلول خوشحالۍ ته هم وائي چې پکښې دغه د کل معني لکه د پښتو راغلي دي ښکلي هم دبې چینئ دپاره دغه نه مرکب دې او لوبو او نیاز پیاز ته هم کل وئیلے شي.

"Kit ( observe, mark, intellect, mind, perceive) "65

دا هم هغه کتل لفظ سره تړلے لفظ دے خو مونږ ګورو دلته دا لفظ نورې نورې اصطلاحي معني خپلوي یعني د کتنې نه ادراک، ادراک نه پوهه، او پوهې نه ذهن پورې معني ئې خپل ځان کښې راغونډې کړي. پښتو کښې کاتئ، او کوت دې سره ورته لفظونه دي.

"Khanda-ka (Pleasing)"66

د کهندا دې لفظ کښې موجود د خوشۍ معنو کښې د خندا لفظ هم معنې هم دے چې فارسۍ او پښتو دواړو کښې د شونډو غوړیدو حرکت دپاره د خوشحالۍ په وخت پکارولے کیږي. ممکنه ده د دې بسمه هم "ښه "او د "ښه انده" وه.

"Khada ( Covering leaf)"67

دې لفظ سره ورته لفظ خید دے چې د زخم دپاسه کهرنډ یا د پیو د پاسه د پیوروي (پهیروي) دپاره مستعمل دے. د کهرنډ دپاره د پرچ او پوستک لفظونه هم پکاریږي. چې د دې لفظ د معنو سره یو شاني دي.

"Kyut ( drop, drip, fall down)"68

د دې لفظ کېووت معني زمکې ته پرېوته دي. پښتو کښې د زمکې سره په نسبت داسې بې شمېره لفظونه دي چې دغه بسمه کېو پکښې ده لکه

"کېوستل ، کښېنول، کېوتل، (ګیریدل، اخته کیدل، راکوزیدل)، کښت ( د فارسۍ د کشت چې اصل ئې کېښت ښکاري)، کښې ( د فصل ساتونکے)، کیفاچ ( د زمکې ایوي کولو یو طرز)، کېواته (کښته کیده) کېږ ( پنډ غالے، شپول، فرشي دروازه )-"69

کهړکۍ هم دغه دکېږ نه وتي توري ده

"کېندل، کېمنډل، کېلے ( د ښپې مینځ)، کیله (۴۰ جریبه زمکه) کیلک ( ژغونډے) کیل (د یوې کرښه ایسته) کېړه (کندو) کېړے ( د شګونه د سرۀ زر چاښولو غلبیل) کیري ( شګونه سره زر چاښول) کیخ (مړیستون)، کیے (کهے) (درومه، نل) کوین (ګینترۍ) کینودے ( سرنګ) کریږ (جیغل، کله سپینه تیږه)"70

دغه "کي" په "کو "هم بدل شوے لکه

"کووالے (کهے) کواواوې (کلکه سخته زمکه ) کوهړ (کلکه زمکه متروکه زمکه)"71

دغسې په کېړ کښې هم ځیني لفظونه شته لکه کیږدل، کیږدۍ، (کږدۍ)، غوندې لفظونه کیږدۍ تعلق هم زمکې کښې لګیدو سره وي.-----''''

# حوالې


1-خلیل صدیقي، زبان کیا ہے، بیکن ہاؤس لاہور، ۲۰۰۹، مخ ۲۰۷

2-حبیبي، عبدالحیٰ، علامه، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ۲۰۱۱، مخ ۸۳

3- MacDonnell, Arthur - Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, PIII

4-عرشي،امتیازعلي،مولانا، اردو مین پشتو کا حصه، پشتو اکیډمي، ۱۹۶۰، ص، ۱۲

5- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P81

6-اصغر، راجېسور راؤ، راجه، هندي اردو لغت، مقتدره قومي زبان اسلام اباد، ۱۹۹۳، ص ۲۸۵

7- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 81

8-مشواني، عبدالقیوم زاهد، زاهد ،پښتو پښتوسیند، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۸۹۱

9-اصغر، راجبسور راؤ، راجه، هندي اردو لغت، مقتدره قومي زبان اسلام اباد، ۱۹۹۳، ص ۳۷۷

10-ایضاً

11- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 81

12-مشواني، عبدالقیوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسیند، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۸۵۵

13- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 81

14-مشواني، عبدالقيوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسيند، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۳۲۰
15-هم دغه اثر
16- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 82
17-مشواني، عبدالقيوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسيند، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۳۶۲
18- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 81
19-مشواني، عبدالقيوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسيند، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۳۰۵
20-عامر، عبدالكريم، پښتو لغات، (لومړے ټوک) دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۰۹، مخ، ۵۷
21-مشواني، عبدالقيوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسيند، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۳۸۸
22-هم دغه اثرمخ، ۳۶۲
23-هم دغه اثر ۳۶۴
24-اصغر، راجپسور راؤ، راجه، هندي اردو لغت، مقتدره قومي زبان اسلام اباد، ۱۹۹۳، ص ۲۳۱
25- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 81
26- Ibid, 83
27-مشواني، عبدالقيوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسيند، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۸۹۱
28-هم دغه اثر،
29- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 85
30-مشواني، عبدالقيوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسيند، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۸۷۸
31-اصغر، راجپسور راؤ، راجه، هندي اردو لغت، مقتدره قومي زبان اسلام اباد، ۱۹۹۳، ص ۳۸۱
32- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P84
33-مشواني، عبدالقيوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسيند، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۷۰۶
34- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 88
35-مشواني، عبدالقيوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسيند، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۷۱۷

36- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 89
37-اصغر، راجبسور راؤ، راجه، هندي اردو لغت، مقتدره قومي زبان اسلام اباد، ۱۹۹۳، ص ۳۸۶
38- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 88
39-عامر، عبدالکریم، پښتو لغات، (لومړے ټوک)م دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ۲۰۰۹، مخ، ۲۹۲
40- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 89
41- Ibid, 88
42-اصغر، راجبسور راؤ، راجه، هندي اردو لغت، مقتدره قومي زبان اسلام اباد، ۱۹۹۳، ص ۳۸۶
43- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 90
44-اصغر، راجبسور راؤ، راجه، هندي اردو لغت، مقتدره قومي زبان اسلام اباد، ۱۹۹۳، ص ۳۸۸
45-مشواني، عبدالقيوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسيند، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۸۷۷
46- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 90
47- Ibid, 89
48-مشواني، عبدالقيوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسيند، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۷۱۹
49- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 96
50-اصغر، راجبسور راؤ، راجه، هندي اردو لغت، مقتدره قومي زبان اسلام اباد، ۱۹۹۳، ص ۲۳۹
51- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 97
52--مشواني، عبدالقيوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسيند، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۳۸۹
53- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 97
54--اصغر، راجبسور راؤ، راجه، هندي اردو لغت، مقتدره قومي زبان اسلام اباد، ۱۹۹۳، ص ۲۳۰
55- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 97
56- Ibid, P.90
57- Ibid, P.90
58-مشواني، عبدالقيوم زاهد، زاهد، پښتو، پښتوسيند، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۸۵۰

59-هم دغه اثر،مخ ۸۰۷
60- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 96
61- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 92
62-مشواني، عبدالقيوم زاهد ، زاهد ، پښتو، پښتوسيند ، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۷۹۳
63- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 93
64-اصغر، راجبسور راؤ، راجه، هندي اردو لغت، مقتدره قومي زبان اسلام اباد، ۱۹۹۳، ص ۳۶۲
65- MacDonnell, Arthur Anthony, A practical Sanskrit Dictionary, oxford university press, 1958, P 93
66-- Ibid, 96
67-- Ibid,
68-- Ibid, 96
69-مشواني، عبدالقيوم زاهد ، زاهد ، پښتو، پښتوسيند ، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۸۴۶
70-هم دغه اثر ۷۸۹
71-هم دغه اثر مخ، ۸۴۳

# د اجمل خټک افسانو کښې د ښځینه کردار فکري او تنقیدي جائزه

Tariq Khan*

Abstract:

AjmalKhattak(1925-2010) is a renowned name of Pashto language, literature and poitics.Though basically he is reputed for Pashto Poetry but he has also composed short stories. These short stories have been published on the name of "Pakhto Au Nory Afsany". He has written on various subjects in Pashto short stories.

In this research article, it hasbeen sort out to throw light on the women character portrayed in the short stories of AjmalKhattak. He has been deliberately sketched the portray of women in his short stories. In this article the women character portrayed by him has been elaborated from various angles.

اجمل خټک (۱۹۲۵-۲۰۱۰) د پښتو جدید ادب اوخصوصاً د قام پرست ، ترقي پسند سیاست یوه ستره او ویاړلې نامه ده ، چې د سیاست ، فکر و فن پلوشې ئې په لر او بر پښتون افغان وطن لکه د لمر خورې دي ، دوي که نظم لیکلے او نثر هره فن پاره ئې په خپل ځاے خپل افادیت ارزښت او

---

* PhD Research Scholar Pashto Academy University of Peshawar

ځانګړتيا لري . هسې خو د اجمل خټک بنيادي حواله د دوي نظم د ے کوم چې په خپل دور او وخت يو لويه طبقه او دوره متاثره کړې ده او عن تر ننه پورې ئې د فکر و فن او قامي مبارزې دپاره قام پرست ترقي پسند ليکوال او سياسي کارکنان د ځان او جهان د پاره د لارې مشال ګڼي . اجمل خټک د سياست او شعر و شاعرۍ سره سره نثري ليکنې هم کړې دي د دغه خورو ورو تيت و پرک افسانې چې په مختلف وختونو کښې په مختلفو مجلو او اخبارونو کښې چاپ شوې وې ، ډاکټر زبېر حسرت په جنوري ۲۰۱۲ع کښې دغه افسانې د يو مجموعې په شکل کښې د "پښتو او نورې افسانې" په نوم د پېښور نه چاپ کړې دي۔ دغه مجموعه په درې برخو باندې مشتمله ده اوله برخه "د اجمل خټک افسانې" او د ژوند هلې ځلې ، دويمه برخه "د افسانې په حقله"او درېمه برخه کښې "افسانې"راغونډې کړې دي .

غواړم چې د خپلې موضوع نه وړاندې په کردارنګارۍ څو خبرې وکړم ، د کيسه ايز ادب (Fiction)بنياد په کيسه او د کيسې بنياد په کردار باندې ولاړ د ے د کيسې بنياد او اکائي کردار د ے که مونږ کردار د کيسه ايز ادب نه لرې کړو نو هيڅ به پاتې نه شي ځکه چې کردارونه کيسه په مخکښې بوځي او د کيسې ټوال انحصار په پلاټ وي د پلاټ او د کردار ديو بل سره ژور تعلق د ے ، کردار د پلاټ نه بغېر او پلاټ د کردار نه بغېر مخکښې نه شي تلے دا دواړه د يو بل دپاره جوړ وي يعنې پلاټ او کردار لازم او ملزوم دي ، د کردار په اړه ډاکټر چراغ حسين شاه ليکي :

> "د کردارونو معني ده اشخاص يا وګړي دا کردارونه کيسه يا پلاټ په مخکښې بوځي ، کردارونه يا

جامد وي يا متحرک ، لوي ، واړه يا امدادي وي ، جوت
يا مثالي کردار نه ګړده قيصه چورلي را چورلي"1

دغسې په کيسه ايز ادب کښې د کردار په اړه ډاکټر محمد اعظم اعظم خپل اند داسې وړاندې کوي :

" د ادب هغه اصنافو دپاره کوم چې د قيصې عنصر لري د کردارونو وجود يو لازمي شے دے - بې له کردارونو د ډرامائي او او کيسه ايز ادب هډو تصور نه شي کېدلے ، ځکه چې د قيصې ډرامې يا ناول په څه نه څه شکل کښې د وګړو سره وي او دغه وګړي د قيصې کردارونه وي"2

کردارونه د کيسه ايز ادب د ملا تير دے ، کردارونه مختلف شکلونه او ډولونه لري او په کيسه ايز ادب کښې خپل اهميت او ارزښت هم لري ، چونکې د کردار تعلق د کيسې سره دے او د کيسې د کردار سره ، دغه کردارونه په پخوانيو کيسو داستانونو کښې مافوق الفطرت شيان وو ، څنګه چې ارتقا کېده په ادب کښې نوي اجتهادونه او تجربې کېدلې نو دغه کردارونو د حقيقي "انساني" ژوند او انسان په شکل کښې په کيسو ، داستانونو ، افسانو ، ډرامو يعنې د "کيسه ايز ادب" (Fiction) په هر صنف کښې ځاے شول ، د کيسې ، پلاټ او کردار تر منځه خپل منځ کښې يو جوت تړون دے او دغه تړون د کردار او خصوصاً د انساني ټولنې د ظاهراو باطن بنياد ګرځولے کېږي .

*"کردار اور کہانی کی بنیادی نقطہ چوں کہ "Conflict" یعنی تضاد اور ٹکراو ہوتا ہے، سو ہم یہ کہ سکتے ہیں، کہ انسان کے ظاہر و باطن کا ٹکراو دراصل کردار اور کہانی کی اساس ٹھرتا ہے۔ پھر یہی تضاد یا ٹکراو دراصل سوسائٹی کے ظاہر و باطن کو سامنے لاتا*

*ہے کردار محض تنہا و یکتا ہونے کے باوجود سوسائٹی کے کسی طبقے یا فکر کا نمائندہ بھی ہوتا ہے۔حقیقت کا عکس کردار ہی کی آگ بناتی ہے"3*

کردار د یو شخصیت ، وګړي ، طبقې ، قام ، ټولنې او جنس نمائندګي کوي ، په کیسه ایز ادب کښې د کردار خپل حدود او اصول وي که هغه په نظر کښې ونه ساتل شي نو د ادبي فن پارې معیار غېر فطري ، مصنوعي او کمزورے کېدے شي ، کردار که څه هم "فکشنل" وي خو دغه افسانوي کردار دومره اصل او حقیقي پېش کول پکار وي لکه چې څنګه دغه کردار پخپله وي۔د پښتو افسانې کردار نګاري ځان ته یو جدا بحث ته اړتیا لري چې راټولول ئې په یو لیک کښې ممکنه نه ده خو اسانه هم نه ده ،

که مونږ وګورو د پښتو ژبې وړومبۍ افسانه "کونډه جینۍ"چې راحت زاخېلي په کال ۱۹۱۷ع کښې لیکلې ده ، په بنیادي توګهیو کرداري افسانه ده او دغه کردار د یو لاچاره او بې وسه جینۍ "مرغۍ" دے کوم چې ټولنې د ناوړه او ناروارسمونو ښکار وي په دې افسانه کښې د ټولنې د بد رسمونو ډېر په فن کارانه شکل نقشه راښکل شوې ده ۔ دا اصلاحي افسانه د پښتو افسانې د ښځینه کردار او د عامې ټولنې سره سم د ښځینه مسائلو په حواله وړومبۍ هڅه کوشش او اغاز دے۔ اجمل خټک که یو طرف ته د پښتني ټولنې د مظلومو ، محکومو ، پرېوتو اوغریبو انسانانو کردارونه په خپلو افسانو کښې خوندي کړي نو بل خوا ئې د ظالم ، جابر ، استعمار ناولې څهرې هم اولس ته په ډاګه کړې دي او د دغه لیکونو پ بدل کښې ئې یو قیمت هم ادا کړے دے ، وهل ، ټکول ، جیلونه ، ګرفتارۍ او عن د کور د بې عزتیو پورې هر څه ئې لیدلي او برداشت کړي دي ۔ دوي چې په خپلو ټولو افسانو ټول

کردارونه او خصوصاً د ښځينه کردار کومه نقشه راښکلې ده ، هغه د پښتون افغان وطن د ټولنيز ژوند ، تاريخ ، سياست ،او د استعمار د ظلم او جبر يو زړه دردونکے داستان او تصوير دے –دوي په خپله يو افسانه کښې "زه افسانه نه شم ليکلے" کښې ښځينه کردار داسې انځوروي چې د ټولنې د قامي ، طبقاتي اړي ګړي او د انګرېز نه پس د هغوي د وارثانو د استعماريت نخښې مونږ ته را په ګوته کوي۔

"معلومه شوه چې ځوک فقيره ده ، ګدائي ئې کړې
وه په هيبت هيبت واپس تله چې په سړک پورې وته ، هم
هغه موټر وه که لاړی ، کومه چې ما مخکښې ليدلې وه ،
پرې راغلې وه چې لاري وال پوهېدو او دې ځان بچ کولو
وهلې ئې وه او د شلو کورو راټول کړے خېر ئې ترې پاتې
کړے وه او دا وړې ترې د خپلو وينو په ډنډ کښې د
ځنکدن په حال پرته وه"4

په دې افسانه کښې يو طرف ته د يوې بې وزله او غريبې فقيرې کردار ښودلے شوے دے نو بل خوا ئې هم د دغه فقيرې د ماشوم بچي د ژړا او په وطن کښې د طبقاتي لاندي باندي د درد يو زړه بوږنوؤنکے انځور ښکل کړے دے ، د سوچه ژبې خوږلښتاو په خصوصيت سره د کردار او ماحول د منظرکشۍ چې کوم کينوس اجمل خټک راښکلے هغه د دوي د لوړ فن توند وتېز قلم زور مونږ ته راښائي ، دوي چې د فقيرې د کردار ځنګه او ځومره ښکلې منظرکښي کوي او د دې مظلوم محروم جنس د وجود تصور او تصوير وړاندې کوي هغه د ليدو دے۔

"يوه ښځه د سړک په څنډه بې ځانه بې ځوله
غوندې په وينو لړلې پرته وه خوا کښې مات کنډول دے

چې بس شل قسمه اینګلولے ترینه بهېدلے دے ورسره
غارغار خیرنه خیچنه لوپټه پرته ده یو څو سرې ټکرې تس
نس شوي دي لاسونو سره نژدې ئې یو څو څپیاکې او څو
لرګي پراته دي او دا فقیره خاورو او وینو کښې لوغړېدلې
ده چې څوک راهروے راځي ورته ودرېږي....."5

په اجمل خټک د شربت خان نخرې افسانه نه لیکي خو چې کله د
یو ماشوم د دردہ ډکه ژړا د سورو خلکو مستي په برق برق خنداګانې
ووینې او بیا یو فقیره په وینو کښې لت پت ووینې نو قلم پورته کوي
هغوي چې کله دغه د درد دغه شدت تصویر کوو نو لیکل به ئې کول
ځکه چې د اجمل خټک سره د موضوغاتو او د کیسې د جوړولو هیڅ
مسله نه وه چې کله ئې هم درد څرېکه کړې نو یو فن پاره ئې تخلیق کړې
ده د دوي د دې افسانې کردارونه سوچه د ټولنې او د وطن د محرومې
طبقاتي اړي ګړي د استعمار د غلبې او د غربت د زپلي انسانیت
انځورونه دي هغه په حقه وې چې "زه افسانه نه شم لیکلے"اجمل خټک د
پښتون ، افغان وطن قام او اولس د مسائلو او وسائلو د ژړا او خندا په
راز او وجو پوهېدو د خپلې خاورې ژبې او قام سره د هغه تړون دا خبره
ثابتوي چې د هغه لیک د هر کردار شاته د دې وطن او قام یو انسان ولاړ
دے او اجمل خټک د دوي تر منځه مکالمه ، او د دوي د طبقتې
ستونځې او مسلې د خپل قلم په زریعه داسې بیانوي چې ته به وائې زما
تر مخه دغه ټول کردارونه وړاندې حرکت کوي، دوي چې کله "دوه
جهنډې" نومې افسانه لیکي نو په شا ئې د هند و وېش یو لویه سانحه
برېښي "وېش د بل په لاس ؤ" په دغه افسانه کښې د یو خدائي خدمتګار
د ارمانونو او خوبونو او د هغه د ماشوم زوي او خصوصاً د هغه د ښځې

داسې خاکه وړاندې کړې ده چې دهغه وخت د انګرېزانو او د هغوي د وارثانو چې کوم ظلمونه د خدائي خدمتګارانو سره کړي وو هغه تاريخي واقعات ئې په کښې تړول قلم بند کړي دي ـ د اصل خان صدر صاحب مرګ او ورپسې د خلکو د لاسه د هغه د زوي شېردل وژنه او د ښځې "زرداني" ارمانونه د خاورو لاندې کېږي خو دغه تنګيالۍ په خپله خبره او قول ټينګه ولاړه وي ، خپل هر ارمان او خواهش له ئې په مرۍ ګوتې ايښودې وې ، چې کله ورله شېردل مات مات مړ راوړي نو وائي۔

"بچوړو! دا زما د واده بنارسۍ ده ، د مراد بنارسۍ ده ، دا ما يو ځل ګوټ کښې په سر کړې ده او بيا د صدر صاحب غمونو وهلې يم ، هغه و پسرېدو وخت ئې نه دے راغلے ، دا مې د صدر صاحب سره وعده کړې وه چې ازادي راشي نو د دې نه به جنډه کوم ، که صدر صاحب ژوندے وے نو د هغه په جلوس کښې به روانه وي او که مړ وي نو په قبر به ئې ودروم ، نن مې راخستې ده چې د صدر صاحب زوے د وطن د ازادۍ زړے د خپل پلار نيکه د کلي نه راوړي او ما بوځي نو دا به ورته په سروم او د دې نمر د خوا نه به ئې لکه د ناوې تر کوره بوځم او زه به ورته په لستوڼو ګډېږم ، بيا به هم دغه بنارسۍ يوسم د صدر صاحب په قبر به ئې جنډا کړم"6

د "زرداني" ارمان خاورې شو د واده بنارسۍ چې د خوشحاليو نخښه او علامت ګڼل کېږي خو د صدر صاحب د درد غم ړ مصيبتونو وهلو ټکولو له وجې ئې خپل ټول ارمانونه قربان کړي وو د خپل وطن د ازادۍ د زړې په ارمان وه د صدر صاحب د وطن د ازادي او د ازادۍ

خواږه خوبونه ئې د انګرېزوارثانو د خاورو لاندې کړي د صدر صاحب غونډې د خلکو ژوند تر ننه پورې په دار دے بلها خوېندې میاندې نن هم لېونۍ دي د جېلونو ، کېمپونو ، بې عزتیو د کورونو د لوټ تالاته تر بمي چاودنو ښکار د صدر صاحب ملګري نن همدغه بد تشدد ته مستقیم ولاړ دي او د صدر صاحب اصل خان غونډې مبارزه کوي په"دوه جنډې" افسانه کښې د زرداني اخري ارمان هم اخر د خاورو لاندې شي

"نن هم که څوک د دغه مخامخ اوچت غر سر ته
وخېژي او په غړېدلیو سترګو فکر وکړي نو دوه برغ
قبرونه به ووینې یو لږ نوے بل زړو د دواړو سر ته د مور
او ښځې د ارمانونو د سرې لوپټې سرې دوه جنډې ریږې
، فرق صرف دومره دے چې یوه د غلامۍ د شهید قبر
دے بل د ازادۍ د شهید یو د کفر د شهید بل د اسلام"7

د ازادۍ غلامۍ د کفر او اسلام نه پرته په دغه دوه قبرونو کښې صرف دوه انسانان نه دي پراته بلکې د یو مور او ښځې سره سره د وطن د ازادۍ د مبارزینو ارمانونه هم پراته دي چې په وطن کښې د دې بې وسه او مظلوم اولس د ارمانونو خواهشاتو څومره په منظمه طریقه او طرز تضحیک او سپکاوے کېږي او کېدلے شي ۔ اجمل خټک بله افسانه د "دا هم په کښې شته" په نوم لیکلې ده چې د پلاټ کردارونو سسپنس تلوسې سره سزه ئې د افسنې د هر توکي او فني اجزاو خیال ساتلے دے ، خو په دې افسانه کښې چې ماحول او منظر کشۍ کوم رنګ او ډنګ څنګ وړاندې شوے هغه د لیدو دے ، د دې افسانې بنیادي تهیم د بوستان بابا د لېونۍ لور دے ، چې د ټولنې د غلطو رسمونو او رواجونو

د لاسه لېونۍ شي ، په دغه افسانه کښې اجمل خټک د بوستان بابا د لېونۍ لور تصویر کشي داسې شوې.

"سحر وختي د کور حلقو په هیبت هیبت راپاڅولم راته ئې وې چې پاڅه هغه بېګا چې تا لیدلې وه هغه خو د بوستان بابا هغه لېونۍ لور لور وه کنه ، ما وئیل چې کومه ؟ هغوي جواب راکړو هغه لېونۍ څه وه هغه د ګوټ نه چې راپاڅېدلې ده ما بیا ووې چې څنګه د ګوټ نه راپاڅېدلې ده؟ هغوي جواب راکړو یاد دې نه شي چې د بد بختې واده وو او د ګوټ شپه ئې وه او هغه چنغول سپېره ئې چرته وتختېدو دا شلم کال دے چې هغه چرته ورک دے او دا هم چرته لېونۍ شوې ده خلق وائي چې چا پرې څه کړي دي"8

د اجمل خټک په خپلو فسانو کښې د ښځینه کردار هر اړخیزه نقشه راښکلې شوې ده اوښځینه نفسیاتو او مسلو ته ئې ډېر په ژورنظر پام لرنه هم کړې دا افسانه"دا هم په کښې شته" د اردو ژبې تکړه لیکوال رضا همداني د خپلې موضوع د اهمیت ، ارزښت او سپېڅتیا له نظره په "پشتو افسانے"نومې کتاب کښې اردو ته هم ژباړلې ده اوورسره ئې د اجمل خټک د افسانو په اړه خپله رائې داسې څرګنده کړې ده :

*"مشرقی معاشرے میں بالعموم اور پشتون معاشرے میں بالخصوص اپنی بعض مخصوص روایات کی بنا پر صنف نازک پر کچھ پابندیاں عائد ہیں یہی پابندیاں اور گھٹن اکثر اوقات بغاوت کو جنم دیتی ہے محبت کا جنون روایات اور قوانین کی دیواروں کو توڑ کر رکھ دیتا ہے۔ اجمل خٹک کے افسانے میں بوستان بابا کی پگلی لڑکی کے کردار میں یہی معاشرے کی وضع کردہ جان لیوا گھٹن نے پگلی کے ساتھ دیوانے کو دوش بدوش کھڑا*

کر کے سماج کی بعض غیر فطری پابندیوں کا مزاق اڑایا ہے۔انہوں نے اپنے بھر پور طنزیہ انداز میں دو دیوانوں کی داستان کورومانی اسلوب بیان دے کر زندہ جاوید بنا دیا ہے۔.....

اس افسانے میں وہ زندگی کے ایک بڑے اہم پہلو کو پیش کر رہے ہیں۔ہماری گھٹتی ہوئی گھریلو زندگی کا یہ پہلوبڑی اہمیت رکھتا ہے اجمل نے اس پہلو کو پہلی بار پشتو افسانے میں پیش کیا ہے"9

اجمل خټک که یو طرف ته د ټولنې په غېر انساني او غېرفطري پابندیو پاندې طنز کړے نو بل خوا ئې د محبت په فطري او عالمګیره جذبه د یو ښځینه کردار سره سم د یو لیونیکردار شکل او تصویر هم ډېر په فن کارانه شکل کښې وړاندې کړے او هم ئې د مینې عظیمه او سپېڅلې جذبه دوه اړخیزه او د یوې پت منې ښځې د شان سره سمه په ډېر کوټلي انداز کښې انځور کړې ده۔اجمل خټک په خپلو افسانو کښې د ښځینه کردار سره پوره پوره انصاف کړے او هم دغسې ئې د یوې ښځې "زهرا خټک" په فرضي نوم هم یوه شهکار افسانه "د وفا لوبه که د مینې جواري" په نوم تحریر کړې ده د دغه افسانې په اړه ډاکټر زبېر حسرت لیکي:

"ماته په خپله خټک صاحب مرحوم د دغې افسانې فوټو کاپۍ راکړې وه او دا ئې راته وئیلي وو چې "زهرا خټک" یو پښتنه پېغله وه چې د ځینو ناوړه حالاتو ښکار شوه ، نو ما غوښتل چې دا نامه ورکه نه شي او زمړښ په ادبي تاریخ کښې تل تر تله پاتې شي او دوام ومومي نو ځکه مې دغه دغه افسانه د هغې په نامه

ولیکله او هم داسې چې مونږ غوښتل چې افسانې له یو
نوے رنګ او اهنګ ورکړو"10

هم د دې افسانې په اړه چې ما د ډاکټر زبیر حسرت نه وپوښتل نو دوي داسې نوره کومه بله ضروري خبره په دې اړه ماته ونکړه چې ما دلته نقل کړے وے ، د خدائي خدمتګارتحریک سره تړلي شاعرانو او لیکوالانو عملي او په علمي توګه ښکاره کړې ده چې دې تحریک د ښځو دپاره هم یو پروګرام اوپلان لرلو او په دې اړه "زلمے شاعر او لیکوال خان زمان کاکړ وائي چې دې تحریک ته مونږ د پښتون فیمنزم وړومبۍ څپه وئیلے شو" په خدائي خدمتګار تحریک کښې ښځو ته علمي ، عملي ، او ادبي حواله باندې یو برابر حیثیت او مقام حاصل وو –اجمل خټک په دغه افسانه"د وفا لوبه که د مینې جواري" کښې که د کلي ، اولس د سماجي او تولنیز ژوند ښکلې انځورګري کوي نو بل خوا د پښتون وطن د ښکلا کانړو بوټو غرونو ښکلې منظر کشي او ورسره د خپل اولس د مینې وفا د عقیدت ، تواهماتو او نفسیاتو ښکلې هنداره هم وړاندې کوي ، هم په دغه افسانه کښې یو ځائے ښځینه کردارنو ، رواجونو او تواهماتو ته داسې ژبه ورکوي :

"نن مازیګر د ټول کلي جینکۍ اوښځې ګودر ته راغلې چې د ملنګ سلام وکړي او اووه کاله پس بیا د ده برکتي سترګې ووینې ، کلي کښې حجره ، جوماتونو کښې او کورونو محلتونو کښې بیا د ملنګ د مرتبې قیصې راژوندۍ شوې او خلق بیا یا ځان نه او یا د بل د خولې نه د ملنګ د بزرګۍ قیصې کوي او اووه کاله پس داسې نا څاپه راپیدا کېدل هم یو بله بزرګي ګڼي"11

په دې افسانه کښې د ملنګ شهزاده د مینې دردېدلے داستان پروت دے او بل خوا د یو جینۍ د مجبوره ژوند او مینې هغه جذبه چې انجونه تل داسې د حیا یا شرم له وجې ګونګۍ پاتې شي او د ژوند په اړه د یوې اهمې فیصلې په وخت هم خپل اخلاقي او مذهبي حق هم استعمال نه کړے شي ، د ملنګ شهزاده د خپلې مینې ، د خپل کلي نه تګ او د اووه کاله انتظار نه پس هم هغه جینۍ پسې لېونے وي ، د مینې لېونۍ د ده د ارمان د پوره کولو دپاره راځي او ورته داسې وائي چې زه ستا د خوب هم هغه تصویر خو نه یم د ملنګ شهزاده د مرګ او د هغه مینې نقشه د افسانې اخرې ته داسې انځوروي چې د کلي ،چاپېرچل ، ماحول او منظر ښکلې انځورګري کوي او هم د ملنګ شهزاده د مینېد مرګ منظر هم ښائي :

"سحر چې وړومبے ماښکے خپلې کشتۍ ته راتلو او
د ده سلام ته راغے نو دده په سینه سپینې ریښمي جامې
پرتې وې او دے نه وه ، وائي چې دے ئې قبر کښې کېښو
نو یو لیونۍ راغله ، هغه سپینې جامې ئې اغوستې وې ،
ګډېده او ګډېدو ګډېدو کښې ئې دا وئیل چې ، وګوره زه
هم هغه ستا د خوب تصویر خو نه یم ؟"12

"کلے کلولي" د اجمل خټک یوه بله افسانه ده چې په رهبر کښې په کال ۱۹۵۷ع کښې خپره شوې ده، دا افسانه په بنیادي توګه د کلي وال ژونداو ماحول یوه ښکلې هنداره ده چې په کښې ډېر په ښکلې شکل کښې د کلي وال ژوند او ما حول نقشه وړاندې شوې ده ، د دغې افسانې بنیادي یعنې لوي کردار "شربتے" نومې ځوان دے چې په غلا ، ډاکو ، جوارو کښې جائداد بائلل، او ورسره ورسره د ښځو او افیمو کاروبار

کول چې د ټولنې او د سماجي خرابۍ په کښې ټولې موجودې دي ، په ټولنيز ژوند کښې عموماً او خصوصاً د "د ښځې د واده" مسله او خبره ډېره زياته ګنجلکه "Complex" مسله ده دا سماجي او ټولنيزه مسله بيا د يو انسان د ذات پورې محدوده نه وي ، دې پورې دوه کورمې اول او بيا راتلونکے نسل او خصوصاً د عام د ټولنې ژوند متاثره کېږي ، لکه څنګه چې شربتے د نورو خرابيو سره په دې مسله کښې هم ښکېل دے :

"خدائے غريب ته پېښه کړه او پردۍ ښځه ورپسې راننوته نو اخر پښتو ده شړلے خو ئې نه شوه کنه که شړلے ئې نو خلقو به وې چې دښمنۍ نه وېرېږي او چې ساتله ئې نو اخر هغه هم دچا لور ده کنه ، ده پسې به لاس پښې نه وهي ؟ او بيا خو د هغې مېړه هم شته ، ما وې چې غندله نو شربت د شته مېړه ښځه هم ساتي ؟ غندل راباندې سور غوندې شو او وې وې ، څوک وائي چې د شته مېړه ښځه ساتي ! ، ښځه دا دريم کال دے چې تيراه ته هم رسيدلې ده ، ولې بد نامه خو شربت پورې ده کنه ، ما ورته وې چې ښه لکه ستا شربت پردۍ ښځې تيراه ته لېږي او بيا هم ښه سړے دے ، غندل بيا شروع شو ، ښه سړے خو نه دے ، ولې ستا څه خيال دے ، چې هغه پردۍ ښځه ئې په تيراه کښې خرڅه کړه څه ؟ نا نا هغه خو تيراه کښې د هغه يو اشنا دے ، لس لس اته اته سېره افيم ورته راوړي ، هغه يو ورځ راغلے ؤ بس هغه ته ئې حواله کړه"13

"کلے کلولي" کښې د ټولنيز ژوند په نورو مسلو باندې خبره کېږي نو بل خوا په کښې د يوې ښځې د ژوند ژواک د مرګ او ژوند او بيا د

ټولنې د جبر ، ښکار کېدو ټول پس منظر او وجې هم ښودلے کېږي ، په عمومي توګه چې اجمل خټک څنګه سماجي او ټولنيزو مسلو ته اشاره کوي ، بلکې د فن او هنر يو کمال ئې هم دا دے چې هغه مسلې د ټولنې د هغه کردارونو په ژبه او عمل داسې ښائي چې سړے د اجمل خټک فکروفن ته په شاباش وئيلو باندې مجبوره شي ، د محاورې ، روزمرې او په سوچه سليس انداز کښې داسې ليک کوي چې د کردار او د هغه کردار ټول کړه وړه او نفسياتي جمالياتي او ټولنيز انځور په کښې ډېر واضحه او ښکاره ځلېږي د اجمل خټک د نثري ليکونو په اړه عرفان خټک ليکي :

"د اجمل خټک نثر په دې سبب د هر چا د خوښې دے چې دوي د اولسي ژوند ژواک د عاداتو خصلتونو ، عېبونو او خوبيو په ژور نظر مطالعه کړي او بيا ئې په کنايو اشارو کښې دغه ټولې خرابۍ او خامۍ په ډېرو زړه راښکونکيو عنواناتو او دلچسپيو پيرايو کښې لو ستونکيو ته وړاندې کړې دي "14

اجمل خټک د سماج ، ټولنې په نبض او نفسياتو باندې پوهه وو هغه چې څومره هم ليک کړے دے ، د ټولنې د هر وګړي د کړه وړه پوره نقشه او خاکه ئې وړاندې کړې ده د ټولنې د هر رسم و رواج ټولنيزو کشالو ، خوشحاليو ، مسلو ګڼ اړخونه ئې څرګند کړې دي ، د دوي په افسانو کښې يو افسانه د "د زرو بوټے" ده چې د هند او پښتنو په وطن د فېرنګي سامراج د يرغل او غلامۍ کيسه ئې ډېر په ښکلي انداز کښې په علامتي شکل کښې د فېرنګي سامرجيت ته "د زرو بوټي" افسانه کښې افسانوي شکل ورکړے دا افسانه هم په اووه ورځني رهبر مردان

کښې په ۱۵ مهمی ۱۹۵۷ءکښېخپرهشوېده،داسېدوېبله ډېره مشهوره افسانه "پښتو" ده چې د تيراه د اپريدو د سيمې د دوه تربورانو غېرت ګل او حکيم خان د دشمنۍ کيسه په کښې بيان شوي ده ، په دې افسانه کښې د سماج د بدو رسمونو سره سره د يوې ښځې "زرينې" د همت ، خوش مزاجۍ ، مستقل مزاجۍ ، استقامت ، صبروزغم، حوصلې او پښتو ډېره په ښکلي انداز کښې مجسم کړے شوې ده ، د "زرينې" کردار ئې د کيسې او پلاټ سره سم ډېر په هنر وړاندې کړے دے د هر کردار نه د هغه کردار غوندې خبره ويستل شوې او دهغه کردار ټول په ټول سماجي ، فکري ، او نفسياتي اړخ ئې څرکند کړے دے په پښتو نومې افسانه کښې د زرينې د کردار په حواله عبد الله جان عابد ليکي:

"اجمل خٹک نے گردوپیش کے سماجی ناہمواریوں اور زندگی کی تلخ اور زہر آلود حقیقتوں کو اپنے افسانوں میں نہایت قرینے سے سمویا ہے۔ان کے اکثر کردار بالعموم نچلے طبقے سے متعلق ہوتے ہیں، مگر وہ پوری قوت اوار جذبے سے حالات کی جبریت کا مقابلہ کرنے کی صلاحیت رکھتے ہیں۔اس ضمن میں "میرا تہ" میں زرینہ (افریدیؔ) کا کردار لائق توجہ ہے۔ یہ کردار سماجی زندگی کے بدترین حالات میں انسان کو جینے ، مشکلات کو سہنے اور حالات سے نمٹنے کا ڈھنگ سکھاتا ہے"15

د اجمل خټک د ټولو افسانو کردارونه او خصوصاً د ښځينه کردارونو رنګ مکمل، سماجي ، فکري ، روايتي ، معاشي ، نفسياتي او سياسي نوعيت دي ـ دوي په افسانو کښې ډېر په فن کارانه انداز کښې دغه کردارونه خوندي کړي او وړاندې کړي دي ، اجمل خټک خپل انقلابي فکر ونظر او تګ لارهد پاره د شعر ،فکشن او عن د عملي سياست پورې خپل اسونه زغلولي دي ، او د خپل طرف نه ئې علمي او

عملي مبارزه دوام داره ساتلې وه ، په عمومي توګه شلمه صدۍ د پښتون افغان وطن د يو نظم مزاحمت او د عدم تشدد د مبارزې يو مثالي او انفرادي خاوره او خطه پاتې شوې ده په دې صدۍ کښې که افسانه ډرامه او ناول پښتو ژبې او ادب ته راغي نو مکمل شکل ئې اصلاحي او انقلابي وي د انساني ژوند سره اړه لرونکې مسلې په کښې په خصوصيت سره بيان کړے شوي دي. شلمه صدۍ منځ د اجمل خټک د افسانو دور دے او هم دا دور د شاعرۍ د پښتو جديد ادب د عروج او بلندۍ دور دے ، د ادب او سياست په دغه زمانې کښې اجمل خټک د ادبياتو او سياسياتو نه انکار نه شي کېدلے دوي که نظم ليکلے نو نظم ئې د کمال د درجې ليکلے او د خپل قام او مظلون انسانيت د د دردونو انځورګري ئې په کښې کړې ده او که افسانه ئې ليکلې ده نو هم ئې په کښې د خپل قام او مظلوم انسانيت سره د همدردۍ اظهار کړے دے دوي په خپلو افسانو کښې د سماج ، ټولنې او ټولنيز ژوند د خرابيو او بدو رسمونو ته اشارې کړې دي دوي په ټولو افسانو يو خاص اصلاحي او انقلابي رنګ خور وو د ټولنيز ژوند هره مسله او هر کردار ډېر په فن کارانه شکل کښې مجسم کړے دے. خصوصاً "ښځينه کردارونه"ئې د زمان او مکان او افسانې په فني او فکري ډهانچه کښې داسې ځاے کړي دي چې خپل مثال په خپله دي ، د هر کردار سره ئې پوره پوره انصاف کړے دے.

# حوالې

(1) چراغ حسین شاه ، سید ، ډاکټر ، پښتوناول (مقاله) مشموله ، اول چاپ ، ۲۰۰۶ع، پښتو ، پرون نن او سبا ، ترتیب ، اسیرمنګل، سلیم بنګش ، پېښور ، دانش کتاب خانه قیصه خوانی ، ، مخ ، ۲۴۱

(۲) اعظم،محمد ،اعظم، ډاکټر ، پښتو ادب کښې کردار نګاري ، اول چاپ ، ۱۹۹۳ع،ډائرېکټر پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ، مخ،۲۳

(۳)خالق شعیب،ټي وي ډرامه کیسے لکھا جاتا ہے، سن اشاعت ۲۰۱۶ع، اکادمي ادبیات پاکستان، اسلام اباد، پطرس بخاري روډ،، مخ ۳۹

(۴) اجمل خټک پښتو او نورې افسانې ، (لټون او سمون ډاکټر زبیر حسرت) اول چاپ ، ۲۰۱۲ع،پېښور ، یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار ، مخ ، ۱۰۷

(۵) هم دغه ، مخ ، ۱۰۷

(۶) هم دغه ، مخ ،۱۳۲/۳۳

(۷) همدغه، مخ ، ۱۳۳/۳۴

(۸) هم دغه ، مخ ، ۱۳۷

(۹) رضا همداني ، پشتو افسانے ، پشاور ، نیا مکتبه ، مئ ۱۹۶۱ع، مخ،۶۶/۶۷

(۱۰) اجمل خټک ، پښتو او نورې افسانې حسرت زبیر ، ډاکټر (د اجمل خټک افسانې) مخ ، ۲۰

(۱۱) هم دغه ، مخ ، ۱۵۸

(۱۲) هم دغه ، مخ ، ۱۶۰

(۱۳) هم دغه ، مخ ، ۱۶۶

(۱۴) خټک ، عرفان ، د اجمل خټک نثري لیکونو ته یو کتنه (مقاله) مشموله ، میاستنی ، پښتون ، پېښور ، دولسم کال ، ۱۱۲، ګڼه، فروري،۲۰۱۷،مخ،۴۲

(۱۵) عابد، عبدالله جان، اجمل خټک شخصیت اور فن، سن اشاعت، ۲۰۰۷، اکادمی ادبیات پاکستان، ۸/ H-۱ اسلام اباد، مخ، ۱۱۵

# د ولي خان په نثر کښې د متلونو او ټپو استعمال

ډاکټر ګل منېر* ډاکټر سید ظفر الله بخشالي**

ABSTRACT:

The prose work of Khan Abdul Wali khan stood prominent among independent men of letters of his time. He is great, of course in the new time with perfection in his.

Considerable prevail of Pashto Tapa and Matal in his work show his grip over Pashto local inhibition as he was. His work has poetical beauty it's the great chronicle of Pashtoon heritage also, we found great perfection of in his real life in his public speech and in private we saw him a great preserver of Pashto language and cultural.

Though the usage of proverb, TAPA he brought prose to home and domestic felling and gives it, the colors of the Pashto Heritage. Text shows the verbosity if you fail to attain, the meaning, of the Proverbs and **Tappa** in his prose work. A prominent literary man lived with great honor for his nation and for his culture beautifully. Following the efforts to shed lights on the prose

* Lecturer in Pashto Government Degree College Thana Malakand

** Assistant Professor Department of Pashto Abdul Wali Khan Mardan

work of Wali khan writer will try to open the new ways.

خان عبدالولي خان د شلمې پیړۍ د خداي خدمتګار تحریک د ډلې او سبک هغه نثرنګار دے، چا ، چې نه واځې دا ، چې د اجتماعي علومو او موضوعاتو له په خپلو نثر لیکنو کښې ځاي ورکړي دي بلکې د خپلې ځانګړي انداز بیان له کبله یې یو انفرادي اسلوب کښې نثر لیکنې تر سره کړې دي. د خوږې محاروې او روزمرې د رنګونو سره سربیره د هغه په نثر لیکنو کښې د متلونو او ټپو په زړه پورې او بر محل استعمال د کمال تر حده رسیدلے دے، چې په لاندې کرښو کښې به د هغه په نثر کښې متل او ټپې په استعمال ځان ځانله بحث تر سره کیږي، چې ولي خان د فولکلوري توکو استعمال په خپلو نثر لیکنو کښې څنګه تر سره کړے دے؟

## متل

متل چې پۀ پښتو کښې ورته 'متل'، اردو کښې 'ضرب المثل' او پۀ انګریزۍ کښې ورته Proverb وائي، هغه مشهورې، مؤثرې او مختصرې جامع ساده او بې تکلفه وینا یا جملې ته وئیلے شي چې دموزون الفاظو لرله سره مناسب ترتیب لري او د اوچتې معنې واضحه مفهوم ته وئیلے شي۔ یعنې د مشرانو او بوهانو د خولې وتلې هغه مقولې ته وئیلے شي چې لکه د کاڼي کرښه وي او سینه پۀ سینه د یو نه بل ته نتقل کیږي۔
سید عظیم شاه بخاري صاحب د متل پیژندګلو داسې کوي،

"متل پۀ اصل کښې داسې خبره، جمله یا فقره وي چې د کومې قیصې د کومې واقعې یا د کومې اهمې پېښې پۀ حقله د چا تجربه کار مشر یا پوهان وغېره د خولې نه ساخته ووځي او دا جمله، خبره یا فقره داسې د موقعې سره سمه معنا وره او سودمنه وي چې بیا نور خلق ئې هم پۀ دغسې موقعو استعمالوي او بیا چې رو رو پۀ اولس کښې ډېره عامه شي نو متل وګرځي۔"1

د متل د اهمیت او ارزښت پۀ حقله ښاغلے پروفېسر محمد نواز طائر لیکي،

"ضرب الامثال کسي قوم کے مزاج اور اس قوم کي زبان کے وہ بنیادي سرمایہہو تا ہے جس میں اس قوم کے افکار و خیالات، روایات و رجحانات، رسوم و رواج، علوم و فنون، کسب و ہنر غرض پوري زندگي اور زندگي کے ہر انداز کو کچھ اس طریقہ سے سمویا ہو تا ہے کہ ان میں کوئي بھي پہلو تشنہ نہیں رہتا۔ نہ صرف یہ بلکہ تجربات و مشاہدات کي بھٹي سے نکل کر یہ ضرب الامثال پتھر کي لکیر کي طرح دل پر نقش ہو جاتے ہیں۔ پشتون عوام زندگي کے حوادث سے آشنا انقلاب در انقلاب اور گو نا گوں حادثات ان کي زندگي کا ایک مستقل حصہہیں۔ ان انقلابات و حادثات نے ایک طرف اگر ان کو علوم و فنون سے بہرہ ور ہونے کا موقع نہیں دیاتو دوسري جانب جہد للبقا کے سلسلہ میں ان کو وہ جوہر عطا کئے جس کي وجہ سے ہزار نامساعد حالات کے باوجود پشتون آج تک زندہہے۔ پشتونوں نے بھي سالہا سال کے انہي تجربات و مشاہدات کو ضرب الامثال، مقولوں اور کہاوتوں کي شکل میں اپنے ذہن میں محفوظ رکھا اور یہ سرمایہیوں ہزاروں برس سینہ بہ سینہ ایک نسل سے دوسري نسل کو مع مزید اضافہ کے منتقل ہو تا رہا۔"2

متل پۀ خبرو اترو کښې د تقریر سره سره پۀ تحریر کښې د کارولو ډېر لوے اثرناک او زړۀ راکښونکے عمل دے چې پۀ جامع مقصد پۀ

مختصره توګه په خپله لمن کښې رانغاړي ـ يعنې د ګښتو بحث په يوه جمله کښې واضحه کړي او لوستونکي يا اورېدونکي د خپلو روايتي اصولو په رڼا کښې په اسانه پوهه شي ـ

د متلونو برمحل استعمال په تحرير کښې خوند يو په دوه کوي او يو لوے مقصد په مختصره توګه ترسره کوي ـ د متل په تحرير کښې د اهميت او ارزښت په حقله قلندر مومند "د قيصه خوانۍ ګپ" په مقدمه کښې د سي.اېم پرتې د دې وېنا په مخالفت (چې د متلونو استعمال هغه خلق کوي چې خپل استدلالي قوت ئې محدود وي) کښې ليکي

"چې کۀ دا ومنو نو نور خو څۀ کوئ چې د کتابِ مقدس يوه اهمه حصه يعنې 'امثال' به هم د ښاغلي پرتې د تنقيد لاندې راشي ـ زمونږ په زمانه کښې مشهور سياسي مفکر ماوزے تونګ د خپلې خبرې ابتداء د يو نه يو چيني متل يا قيصې نه کوي ـ د دے نه خو دا نتيجه نۀ شي وکښلې چې د ماوزے تونګ استدلالي قوت کم ؤ ـ"3

د متل برمحل استعمال د هر چا د وس کار هم نۀ دے بلکې د متلونو استعمال په ژبه او کلتور باندې پوره قدرت او پوهه غواړي او دغه کمال ولي خان ته په ډېره ښه توګه حاصل ؤ ـ هغه نۀ يواځې دا چې د امروزه ژوند په خبرو اترو او تقريرونو کښې د متل مناسب او برجسته کارولو په چل پوهېدو بلکې په تحرير کښې ئې هم د متل استعمال د کمال تر حده رسولے دے ـ

د متل داسې د تحرير او متن سره پېوست چې کۀ چرې هغه ترې لرې کړے شي نو د متن به معنا د سره ختمه او بې اثره شي ـ د ولي خان په نثر کښې د متلونو د استعمال په حقله کۀ زۀ دا ووايم چې په پښتو نثر

لیکنو کښې کۀ چا پۀ بشپړه او اثرناکه توګه باندې د متلونو استعمال د کمال بام ته رسولے دے نو هغه خان عبدالولي خان دے . د خان عبدالولي خان د ټول ژوند تاریخي تقریرونه او تحریرونه د دې خبرې ګواه دي چې د متل برمحل او خوندور جالبه استعمال د هغۀ پۀ هره درطمه ځلورمه خبره او پۀ هره دوېمه پاڼه ادبي رنګ او شکلا خلوي.

دلته یو څو نمونې د هغۀ د نثر نه د بېلګې پۀ توګه وړاندې کوم چې د متلونو استعمال پکښې شوے دے.

> "یو خط راغے چې د پاسه بل خط راغے . ورسره 'خېبر' راوچلېد . پرې پسې بل خط د اختر مبارکي او ورسره د اختر نه لویه مبارکي د نسرین د لاس لیک او پۀ اخره پرې سرباري د پاس کېدو خبر . نو څه هډو انصاف پۀ تا چې ددې دومره ګڼو خطونو او پېرزوئنو جواب به پۀ دې یوه پاڼه کاغذ کښې څوک ځاے کوي . خو بنده کۀ بندي پۀ خپل وس پړ دے . دا به پۀ ډېر څۀ منظور کړي او پۀ غېږو شکریې به قبولې کړي . خان دادا ته مې تېره هفته خط کښې لیکلي دي، تا به لوستلي وي . ما وې جهانزېب د امتحان د ورځو نه مخکښې ډېرې سوکړې راباندې تېرې کړې وې نو پۀ یوه مخه داسې وورېدو چې هیله ئې تنده سړه او تېر یخ کړو . خط خو به مې درته دغه مخکښې هفته کښې لیکۀ خو د خان دادا نه وېرېږم . وائي کنه چې 'د مشر مشره برخه او د کشر کشره'، 'برابر نۀ دے چرګبانګ د ملابانګ'، نو تۀ به زهیرېږې نۀ چې هغه وړاندې مخکښې شو."4

"ولي پښتانۀ متل کوي 'چې ګيدړ ته خدا ے پۀ قهر شي نو کلي ته مخه وکړي'، داسې معلومېده چې بهټو صاحب د خپلې ډېرې هوښيارتيا او تجربې پۀ بناء څۀ ګنجائش نۀ پرېښودۀ نو نتيجه دا ده چې چټې ئې د قام مخه ځان او پيپل او د الېکشن پاليسۍ ته کړله ـ خلق پوهه شو چې پۀ راتلونکي انتخاباتو کښې به ضرور تګي کيږي ـ"5

"نو ملګرو دا کوشش وکړو چې د بهر نه يو نامتو وکيل راولي نو بهټو صاحب ته پته ولګېده نو هغۀ قانون پاس کړو چې کوم وکيل بهېۀ پاکستان کښې دوه کاله وکالت نۀ وي کړے نو هغه د پاکستان عدالت کښې نۀ شي پېش کېد ے ـ دا هم هغه قانون ؤ چې بهټو صاحب پۀ خپلهحکم زمونږ برخلاف پاس کړے ؤ ـ نن ئې د هغې کوهي پۀ غاړه پۀ خپله شپه شوله چې مونږ ته ئې کنستے ؤ ـ هسې خو پښتانۀ نۀ وائي چې 'هوښياره مرغۍ خو اول نښلي نۀ او چې نښلي نو بيا د دواړو پښو نه نښلي ـ"6

داسې د متلونو د خوند او رنګ نه ډکې د هغۀ پۀ تحريرونو کښې پۀ سلګونو بېلګې دي چې هره يوه د وئيلو او لوستلو جوګه ده خو زۀ دلته د هغۀ پۀ نثر کښې د استعمال شوي متلونو نمونې وړاندې کوم چې نۀ يواځې دا چې د ولي خان د حافظې او د پشتو د فولکور سره د مينې اندازه ترې کيږي بلکې د هغۀ د ښکلي کلېکشن (Collection) پۀ اوچت معيار هم دلالت کوي ـ

## متلونه:


| باچاخان او خدائي خدمتګاري(وړومبے ټوک) | مخونه |
|---|---|
| 1. تۀ رانه تته غواړې، زۀ درنه پوزه پرېکوم | 30 |
| 2. کۀ جغ نۀ وي نو مولے خو به شي | 18 |
| 3. زر پۀ غرۀ کښې لار وباسي | 28 |
| 4. د رېښمو او سنډونو شريکه بياسته نۀ کيږي | 33 |
| 5. باچاهي کول د خټو ګوګوشتو خو نۀ دے | 38 |
| 6. د سپږې د پاره څوک کيند نۀ سيزي | 52 |
| 7. کږه خولۀ پۀ سوک سميږي | 93 |
| 8. ړوند د خدايه څۀ غواړي؟ دوه سترګې | 147 |
| 9. د سور نه ئې تيليا بد دے | 201 |
| 10.حق به هم حق وي خو زور هم حق دے | 312 |

| باچاخان او خدائي خدمتګاري(دويم ټوک) | مخونه |
|---|---|
| 11.چې چا سره کار وي، هغه سرکار وي | 18 |
| 12.تېر پۀ هېر باقي روزګار | 30 |
| 13.سر حيات وي نو خولۍ ډېر دي | 58 |
| 14.يو طرف ته ډانګ دے او بل طرف ته پړانګ | 78 |
| 15.ماموته! بيا دې موته | 83 |
| 16.ټوک وينې او تېږر نۀ وينې | 98 |
| 17.د چا د مرګه او د چا د بخته | 108 |
| 18.هوسۍ څۀ ګړندۍ وه چې لاګونګرودې ورته واچوۀ | 128 |

19.کته باندې، کټوې باندې 135
20.د غلو خوړه ياري وه چې پۀ وېش تالاوالا شوه 161
21.ګډې پې به راکړې خو پچې پکښې 179
22.د سنډاګانو پۀ جنګ کښې چيندخان دل کيږي 221
23.سور د پرېوتو دے 330
24.بل ته کوهے مۀ کنه چرې ستا به ئې پۀ غاړه شپه شي 331
25.پۀ دې قبر شکرې کوم ځاے دي؟ 352
26.چې کومه غوټه پۀ ګوتو پرانستې شي، هغه څوک غاښ ته کوي نۀ 381
27.هر چا ته خپل سوک کابلے ښکاري 409
28.بنده د بنده رحمان دے او بنده د بنده شېطان دے 472
29.اسونو نالونه وهل نو چيندخانو هم پښې پورته کړې 480
30.لنډے حلال نۀ دے او ښانک پۀ سر 530
31.د خټکو ګمان د يقين نه بدتر دے 566

باچاخان او خدائي خدمتګاري(دريم ټوک) مخونه
32.چې د کولال د کوره ووځي، ښخ دې ووځي 2
33.پۀ يو کانړي دوه مرغۍ ويشتل 16
34.چې ګيدړ ته خداے پۀ قهر شي نو کلي ته ورله مخه کړي 176
35.هوښياره مرغۍ اول ګېريږي نۀ او چې ګېره شي نو د دواړو پښو نه ګېريږي 191
36.کارغۀ ئې د ټانګ نه واړولو او دے هغه شان قرا قرا کوي 192
37.ستا پۀ سر اور چا ولګولو؟ پۀ خپله، نو ګيله څۀ له د بله؟ 199

38.چې کوم ځای نهٔ ګرځي، هغه مهٔ ګروه! 199
39.اور او اوبهٔ نهٔ یو ځای کېږي 255
40.پیشو د خدای د پاره مږه نهٔ نیسي 275
41.پړق د یو لاسه نهٔ خیژي 335
42.لاپهٔ ګاځره لاپهٔ کوتک 347
43.واک د اختیار دے 350
44.د غلو خوږه یاري وه چې پهٔ وېش تالاوالا شوه 359
45.منیه خو به هر څهٔ وائي چې ملا فاروق ئې مني او کهٔ نهٔ 378
46.د ملا جېب د خورجبین نه کم نهٔ وي 441
47.د کونډې ځویه! څهٔ خو بویه 459
48.غوښې خو د ټولو ځناورو خوښې دي خو د پیشو وریسې سرې پرېوځي 460
49.کهٔ سل خویونه ئې نور وي، یو به ئې د مور وي 484
50.هر ملا پرې خپل بارګے منزل ته رسوي 603
51.د چیندخو تول دے، چې یوه راځي دوه ځي 628
52.د کانګړې پهٔ ټس کښې لاړې بټګرامه 632
53.د وچو سره لواندهٔ سوزي 632
54.د غل پهٔ ځای کولال داغل 632
55.راست اوسه، پهٔ لویه لار کښې ملاست اوسه 637
56.دودھ دودھ شو، پاني پاني 662
57.پینځهٔ واړه ګوتې پهٔ غوړو کښې کېدل 662
58.تهٔ نته غواړې، زهٔ درنه بوزه پرېکوم 676
59.توره دې لالاوهي او نمړۍ دې ګوپالاوهي 691

60.ږوند د خدایه څۀ غواړي؟ دوه سترګې 696
61.حق به حق وي خو زور هم حق دے 704

سوغات(خطونه) مخونه

62.څۀ ور پناه، څۀ غر پناه 20
63.چې د کولال د کوره ووځي، بېخ دې ووځي 21
64.پۀ خپل دې نازېږه او پۀ پردي وشرمېږه 36
65.لاس چې مات شي، غاړې له راځي 41
66.غریب سړي ته څوک سترے مۀ شې هم نۀ وائي 42
67.چې مونږ سره ګرځې، دا مزې خو به کوې 44
68.د پولۍ پړق ته کښېناستل 64
69.زورور وړ دے، کمزورے پړ دے 79
70.یتیم هسې هم د ژړا عادت وي 85
71.کۀ ګور ګران دے خو د مړي ناکام دے 85
72.د میرات ملیزي لس زامن وي 81
73.د مشر مشره برخه، د کشر کشره برخه 90
74.برابر نۀ دے د چرګ بانګ د ملا بانګ 90
75.چې مرګ ته ئې ونیسې نو تبې ته غاړه کېږدي 126
76.کۀ غل نۀ تښتي نو مل دې وتښتي 142

ټپه:

ټپه چې د اولسي ادب تر دې دمه د ټولو صنفونو نه لرغونے حېثیت لري، پۀ عام اولس کښې ډېر مقبول او مشهور صنف دے۔ داسې یو پښتون به نۀ وي چې هغۀ ته به ټپې نۀ وي یادې۔ ټپې د خپلې مقبولتیا

لۀ کبله پوره نومونه اختیار کړي وي لکه مصرعه، لنډی، ټپه وغېره پۀ نومونه یاده شوې ده۔ ټپه چې دوه موزونه مصرعې لري۔ اوله مصرعه ئې نهه سېلابه او دوېمه مصرعه ئې دیارلس سېلابه لري۔ د ټپې رغونه ډېره ساده او روانه وي۔ د هېڅ قسم بناوټ نه خالي وي او زیاتره ښځو ته منسوب کولې شي۔7 د اولسي مقبولتیا لۀ کبله بعضې ټپې د متلونو حېثیت اختیار کړے۔ د ټپې د مقبولتیا او ساده ژبې او مزاج پۀ حقله پروفېسر نواز طائر صاحب لیکي،

"دغه رنګ بېشماره ټپې داسې دي چې دوي ئې پۀ هر وخت د ضرورت د متلونو پۀ ځاے پکاروي او د خپل مطلب، غرض او جذباتو اظهار پکښې کوي۔ د ټپې ژبه سوچه او ساده وي۔ پۀ دې کښې نۀ خو بې ځایه لفاظي وي او نۀ دا د استعارو، تشبیهاتو، تلمیحاتو یا نورو شاعرانه کړلېچونو تکلفات لري۔ ځکه خو پۀ هر چا ښه لګي او د زړۀ تل ته ئې هم ټک پۀ ټکه پرېوځي۔ لنډه دا چې د ټپې کور د خپلو بې شماره خصوصیاتو لۀ کبله د هر پښتون د زړۀ پۀ دنیا کښې دے۔"8

لکه څنګه چې وړاندې د بحث لاندې دا خبره راغله چې ټپه د خپلې مقبولتیا لۀ کبله پۀ اکثره اولس کښې د متل حېثیت هم اختیاروي نو پۀ دغه اند پښتنانۀ د مجلس ټنګ ټکور نه علاوه پۀ خبرو اترو کښې هم ټپې پۀ کار راولي۔ د هغې وجه دا ده چې یو خو ټپه د ساخت لۀ کبله اسانه، روانه او ساده ژبه لري او بله دا چې د ټپې موضوع ډېره خوږه ده۔ غرض د ژوند پۀ هر اړخ ټپې وئیلې شوې دي۔ دغه رنګه ټپه د خبرو اترو

او بحثونو نه علاوه پهٔ تحرير کښې هم د خپل جامعيت او زړهٔ راکښون لهٔ کبله استعمال شوې دي۔

خان عبدالولي خان نهٔ يواځې دا چې د خپل فولکور او پهٔ خاصه توګه د ټپې سره ډېره زياته مينه درلوده (چې د ټپو راټولول او د هغې چاپ شوي مجمعوعه "ملغلرې" ئې ژوندے ثبوت دے)، بلکې پهٔ زرګونو ټپې ورته يادې هم وې چې پهٔ خبرو اترو او تقريرونو کښې به ئې د موقع محل مناسبت سره استعمالولې۔ دغه رنګه د بيان نه علاوه د هغهٔ پهٔ همه نثري ليکنو کښې د ادبي رنګ او ښکلا پهٔ خاطر د مقصديت نه ډکې ټپې استعمال شوې دي چې د نثر خوند ئې پهٔ څو چنده سېوا شوے دے۔ خان عبدالولي خان د پښتو د محاورې او متل غوندې د ټپو استعمال هم پهٔ خپلو نثرونو کښې پهٔ بشپړه توګه ترسره کړے دے اوزما پهٔ خيال پهٔ نثر کښې د ټپو برمحل استعمال هم پهٔ پښتو کښې دهٔ کمال ته رسولے دے چې دغه سعادت هم دهٔ ته حاصل دے۔لکه د متل چې د خان عبدالولي خان د نثر نه ټپې لرې کړې شي نو د کتاب د اهميت سره سره د متن ټول مطلب او خوند هم د مينځه ځي۔ خان عبدالولي خان پهٔ سوونو ټپې پهٔ خپلو نثري ليکنو کښې استعمال کړې دي چې د هغهٔ د ذهني استعداد سره سره د هغهٔ پهٔ ژبه د قدرت او سحر انګېز بيان باندې ګواهي هم ورکوي۔لکه چې يو ځاے د امريکې او پاکستان د ملګرتيا پهٔ حقله ليکي،

> "اخوا پهٔ 1952ء کښې پهٔ امريکا کښې صدارتي انتخابات وشول او فوځي اميزن هاور (Republican) صدر منتخب شو ۔ رچرډ نکسن نائب صدر او د مطلب سړے فوسټوډېلي سېکرټري آف سټېټ مقرر شو ۔ ددغه ټول

صدارتي انتخاب مهم موړے د کميونزم پۀ خلاف مورچه قائمول وو او جنګي منصوبه بندي پۀ دې نظر جوړېدله چې پۀ مشرقِ وسطیٰ، جنوبي ايشياء کښې دې قوي اډې جوړې کړې شي چې د جنګ پۀ وخت کښې هغه د روس د تباهۍ قابلې وي۔ هغه پښتانۀ ټپه کوي چې،

خدايـــــه زړې فـــتنې تـــازه کـــړې
چـــې د لغـــړو زلمـــو قـــدر پېـــدا شـــينه ۔"9

او دغسې د روس پۀ حقله د پېرنګي د پاليسۍ پۀ حقله چې کله پېرنګے دا يقين واخلي چې روس کمزورے او د بهر دنيا نه کټ شولو نو خان عبدالولي خان ئې د ټپې پۀ هنداره کښې داسې يادوي،

"نو پېرنګے بيا پوهه شو چې کۀ روس دا ځل جرمني له ماته ورکړه نو بيا خو به دے نور هم قوي پاتې شي نو 'دے پۀ وتلې توبه بيا ستومانه شۀ نه '۔"10

پۀ يو بل ځاے کښې د پير زکوړي صاحب د خپل عمل د لارې مل پۀ ځير د هغۀ پۀ حقله وائي چې هغه چې څۀ وخت کښې پۀ حکومت کښې ؤ نو هغۀ د قېديانو د نظربندۍ د بِل پۀ حقله چې د نظر بند قېديانو پۀ قانون کښې دې نرمي راشي، مخالفت کړے ؤ ۔ چې بيا پۀ جېل کښې د هغه قانون لاندې پروت ؤ نو د ولي خان د خولې نه ئې داسې واورئ،

"هغه پښتانۀ ټپه کوي،

زمـــا پـــۀ غـــم خوشـــــــــحالي مـــۀ کـــړه
سبا به ستا پۀ کور غوغا د بېلتـون وينـه"11

د قاضي عطاء الله مرحوم پهٔ جېل کښې د مرګ پهٔ ضمن کښې د هغهٔ شجاعت او ننګ داسې ستائي،

"قیوم خان چې پهٔ صوابۍ کښې کوم تقریر کړے ؤ چې اول خو به رانه قاضي ژوندے د جېلخانې نه نهٔ راځي او کهٔ چرې راووت نو هم به ئې پهٔ دې چوک کښې د ډاک بنګلې دېوال ته چارماري کوم ـ قاضي صاحب مړ نهٔ دے، مړ کړے شوے دے ـ پشتنې پېغلې ټپه کوي چې،

پـــهٔ تـــور ټوپـــک ویشــــــــتلے راشـــې
د بـــې ننګـــۍ اواز دې رامـــهٔ شـــه مئېنـــه"12

او د هغهٔ پهٔ مرګ یو تاثراتي مضمون (چې د شخصیت نګارۍ کړهٔ وړهٔ لري) کښې د هغهٔ پهٔ مرګ د ننګ، غېرت او مړانې وير داسې زمزمه کوي،

"د سرحد (پښتونخوا) پښتنو او غېرتي جانبازانو! زمونږ د ازادۍ د لارې مشر او ملګرے دغه دے نن پهٔ تور ټوپک ویشتلے درغے او د بې ننګۍ د اواز پهٔ ځاے ئې سر کېښودو ـ اواز ورسره درغله پښتنو پېغلو چې به وې چې،

جانان مې ســــــر پهٔ وطـــن کېښنو
پهٔ تار د زلفو به کفن ورله ګنـــډمه"13

د پېرنګي د اوبو پهٔ لار د سفر شروع او بیا هندوستان پهٔ لاره تر پښتنو د رارسېدو سره سمه دا ټپه د ولي خان د قلم نه داسې راووځي،

"زمونږ د وړوکوالي یوه ټپه وه،

چرتـــــه لنـــــــدن چرتـــــــــه چتـــــرال دے
بــې تنګــي زور شــوه پېرنګيــان چتــرال لــه ځينــه"14

بيا د ماسټر کريم پۀ مرګ چې کوم ليکلے مضمون (چې دا هم د شخصيت نګارۍ رنګ اخلي) کښې د شعر د سرخط لاندې د هغۀ پۀ مرګ خپل دردېدلو احساساتو له د اظهار رنګ ورکوي نو د خپلې مجبورۍ او د ماسټر کريم مرګ پۀ ټپه کښې داسې يادوي،

"زۀ پـــــۀ کـــــــمر ورتـــــــه ولاړ وم
د جانـان سـپين مـخ ئـې قبلـې تـه واړونـه

ما کتل چې باچاخان د خپله لاسه هغه بکس ته کوز کړو، پۀ خپله ئې وسپارلو او ما ليدل چې خازې ئې پرې واړولې ـ پۀ هغه کچه قبر هغه بې شمېره نرګس وليدل چې زما پۀ شان د نورو ډېرو خلقو سره د هغوي سترګې هم د اوښکو ډکې وې ـ"15

د دې پورته ټکړو نه دا خبره ښکاره کېږي چې خان عبدالولي خان د پښتو ټپې سره ډېره مينه هم وه او د هغې سره سره ئې د نثر پۀ امېل کښې لکه د قيمتي ملغلرو پۀ مناسب ځايونو پئيلې هم وې چې کۀ يو طرف ته د خان عبدالولي خان پۀ نثر د قادرالکلامۍ ګواهي ورکوي نو بل پله د هغو پۀ مناسبو ځايونو او اعليٰ معيار د ټپو استعمال د هغۀ پۀ خوندور نثر کښې پۀ ادبي رنګ او ښکلا هم دلالت کوي ـ

د خان عبدالولي خان پۀ نثرنګارۍ کښې پۀ سوونو داسې نمونې شته چې لته د پشتو ټپې د جامعيت او جاذبيت نه پوره پوره کار اخستے شوے دے او د نثر خوند ئې يو پۀ لس کړے دے ـ

د خان عبدالولي خان پۀ نثري ليکنو کښې د سوونو پۀ شمېر کښې د پښتو ډېرې ښکلې او نايابه ټپې پکارولې شوې دي چې د هغۀ د نثر نه ټپې راټولې کړې شي نو د ټپو يوه غوره او نايابه مجموعه ترې جوړېدې شي

# (حوالې)


1. محمد موسي خان شينواري، د متلونو قيصې، جنوري1999، مخ34
2. پروفېسر محمد نواز طائر، روهي متلونه ، دوېم جلد ، پيښور، پښتو اکېډېمي، 1982ء، مخ3
3. مومند قلندر، مشمولا، مقدمه د قيصه خوانۍ ګپ منشي احمد جان ، چاپړے سمال انډسټريز اسټيټ، کوهاټ روډ پشاور، مخ و
4. سوغات، مرتب: پروفېسر جهانزېب نياز، لاهور، ملت پرېس، جولائي2006ء ، مخ 176
5. ولي خان، باچاخان او خدائي خدمتګاري، دريم ټوک، د چاپځاے پيښور، مارچ1998ء، مخ176
6. هم دغه اثر، مخ 178
7. پروفېسر داور خان داور، پښتو ټپه، چاپ ځاے او چاپ کال نۀ لري، مخ 5
8. پروفېسر داور خان داور، ټپه او ژوند ، پېښور، پښتو اکېډېمي، 1985ء، مخونه4،3
9. ولي خان، باچا خان او خدائي خدمتګاري، دوېم ټوک، د چاپځاے پېښور، مارچ1994ء، مخ 14
10. هم دغه اثر، مخ18
11. هم دغه اثر، مخ 141
12. هم دغه اثر، مخ 145
13. ولي خان، غازي قاقي، مجله"لار"پېښور، فروري1957ء،مخ73
14. ولي خان، د ماسټر کريم پۀ مرګ ليکلي تاثرات، مجله "رهبر" پېښور، فروري1957ء، مخ20

# د خوشحال بابا په قصائدو کښې تلمیحات

(Allusions in the Eulogies of Khushal Khan Khatak)

Said Ahmad Sahil*

**Abstract:**

Eulogy is an important genre of the literature. Khushal Khan Khatak the reckoned Pashto poet giuinenly introduced eulogy for the first time in Pashto poetry. As we know that "Allusion" is the second name of history. No one can deny the importance of it. Therefore Khushal khan Khatak used allusions in very large number and decent manner in his eulogies. Trough these allusions he informed us from the very historical refrains as well.

هر انسان دا غواړي چې د هغۀ کلام دې اثر ناک هم وي، اغېز ناک هم وي او دا دې د مخاطب د حال مطابق هم وي۔ د هغۀ په کلام کښې دې نورے والے هم موجود وي او خبره دې په مختلفو طریقو او مختلف اندازونو کښې هم شوي وي۔ د هغۀ په کلام کښې دې د ابلاغ پوره پوره قوت او صلاحیت هم موجود وي۔ کله چې انسان دا غواړي نو پکار ده چې د هغه کلام دې فصیح هم او بلیغ هم۔ د فصیح کلام خوبي فصاحت ګڼلے شي او د بلیغ کلام خوبي بلاغت ګڼلے شي۔ په کلام کښې د فصاحت او بلاغت

*

پیدا کولو او کلام د موثر کولو د پاره د ادب ماهرانو د دريې علمونو زدکړه ډېره ضروري ګرځولې ده چې په دې ډول دي:

١ علمِ معاني

٢ علمِ بیان

٣ علمِ بدیع

په دې دریې علومو کښې موخرالذکر یعني علمِ بدیع په کلام کښې لفظي او معنوي ښائیست او ښکلا پیدا کوي۔ علمِ بدیع څۀ ته وائي؟ په دې حقله سید تسنیم الحق کاکاخېل لیکي:

"بدیع په لغت کښې نوي څیز ته وئیلے شي او په اصطلاح کښې هغه علم ته وائي چې د کلام د ښائیست او په نوي طرز وینا طریقې وربانديې معلومیږي۔"1

مشتاق مجروح یوسفزے په دې حقله لیکي:

"بدیع په اصطلاح کښې هغه علم ته وائي چې د کلام ښائیست پرې معلومیږي، یعني علمِ بدیع هغه قاعدې دي چې کۀ چرې هغه په یو کلام کښې په کار راوستے شي نو په کلام کښې به حسن پیدا شي۔"2

د علم بدیع ماهرانو دا علم په دوۀ برخو کښې ویشلے دے او هره برخه په مختلف صنعتونو مشتمل ده ۔ د علم بدیع د تقسیم په حقله مشتاق مجروح یوسفزے لیکي:

"د علم بدیع دوۀ قسمونه دي ۔ یو ته صنائع لفظي یعني لفظي ښائیست او بل ته صنائع معنوي یعني معنوي ښائیست وئیلے شي۔ دا په نظم کښې هم کېدے شي او په نثر کښې هم ولې په نظم کښې په نسبت د نثر ډېر خوند

کوي۔ په کلام کښې د لفظونو ښائيست ته صنائع لفظي او
په مفهوم او معنو کښې اثراو حسن ته صنائع معنوي
وائي۔"3

د صنائع لفظي يعني لفظي ښائيست په برخه کښې يو صنعت د "صنعتِ تلميح" هم دے چې جمع يي تلميحات ده۔ صنعتِ تلميح څۀ ته وائي؟ په دې حقله سيد تسنيم الحق کاکاخېل ليکي:

"په خپلو اشعارو کښې څۀ مشهورې واقعې يا متل ته
اشاره کول چې پوره خبره اونۀ کړې، په دې اعتماد چې
نوره قيصه مخاطب ته خپله معلومه ده۔"4

په دې حقله مشتاق مجروح يوسفزے ليکي:

"په کلام يا شعر کښې زړې تاريخې واقعې ته اکثر
شاعران اشاره کوي، داسې صنعت ته "صنعتِ تلميح"
وئيلے شي۔"5

ساجد محمد شائق د صنعتِ تلميح نور وضاحت داسې کوي:

"په شعر کښې يوې تاريخي او مذهبي واقعې ته اشاره
کول يا داسې دوۀ مرکب ټکي چې ترې يوې تاريخي
واقعې ته اشاره ترلاسه کيږي۔"6

فيض الوهاب فيض د صنعت تلميح نور وضاحت داسې کوي:

"دا د علم بديع يو صنعت دے۔ په دې کښې په شعر کښې
څۀ مشهورې واقعې يا کردار ته اشاره کولے شي۔ دغه
اشاره په خپل پس منظر کښې د واقعې پوره تفصيل لري
چې د جديد صورت حال سره د يو شان والي په وجه د نوې
تجربې وضاحت ترې کيږي۔"7

خوشحال بابا د پښتو د کلاسک ادب هغه قهرمان ، مبارز او نابغه شخصیت دے چې د څۀ تعارف او تعریف محتاجه نۀ دے۔د پښتو ادب په نظم او نثر کښې يې تلپاتي اثار پرېښي دي۔د پښتو ادب په باب کښې د خپل کار او زيار په حقله د خوشحال بابا دا منظوم دعوه يقيناً چې په خپل ځاے درسته او برمحل ده چې:

"کــــۀ د نظــــم کــــۀ د نثــــر کــــۀ د خــــط دے
پــــه پښــــتو ژبــــه مــــې حــــق دے بــــې حســــابه"8

"د خپل شعر په تعريف کښې" نومې قصيده د خپل معجز بيان شعر متعلق داسې هم وائي:

"پــــه پښــــتو شــــعر چــــې مــــا علــــم بلنــــد کــــړ
د خبــــرو ملــــک مــــې فــــتح پــــه ســــمند کــــړ
قتلمــــې مــــې ورتــــه ســــازې کــــړې د قنــــدو
د اوربشــــو پــــه ډوډو چــــې چــــا شــــخوند کــــړ
لعــــل او در مــــې ورتــــه اوپئيــــل د نظــــم
د مشــــکنو بنجــــاره مــــې مســــتمند کــــړ
پــــه تشــــبيه او پــــه تمثيــــل پــــه نزاکــــت کښــــې
بندوبســــت مــــې د خبــــرې چنــــد در چنــــد کــــړ
پــــه تــــازه تــــازه مضــــمون د پښــــتو شــــعر
پــــه معنــــي مــــې د شــــيراز او د خجنــــد کــــړ"9

دغه شان په يوه بله قصيده "شعر حيض الرجال دے" کښې د خپل شعر متعلق داسې ګويا شوے:

"درست دیوان مې لکه باغ د علم کنج دے
په کښې هر رنګه ګلونه هر نهال"10

خوشحال بابا یو وسیع المطالعه او وسیع المشاهده شخصیت وو۔ د غه وجه ده چې هغۀ په خپل کلام کښې ځاے په ځاے په خبره کښې د خوند او رنګ پېدا کولو، په کلام کښې د زور او اثر پېدا کولو او خپل کلام کښې د فصاحت او بلاغت راوستلو د پاره د مختلفو تلمیحاتو استعمال ډېر په زودار او جاندار انداز کښې کړے دے۔ خوشحال بابا د دې د اهمیت او طاقت نه ښۀ خبر وو نو ځکه یې په شاعرۍ کښې د تلمیحاتو استعمال د موقعې په مناسبت سره ډېر په زړۀ راښکونکي انداز کښې کړے دے۔ خوشحال بابا دا هر څۀ شعوري طور په شعر کښې راوړي دي او د خپل کلام د سینګارولو سره سره په دې تلمیحاتو موثر کړے هم دے۔

خوشحال بابا په خپلو قصائدو کښې هم د دې صنعت یعني صنعتِ تلمیح استعمال ډېر په خلاص مټ کړے دے۔ مختلف تاریخي واقعاتو ته یې په داسې انداز اشارې کړې دي چې د کلام د ښائیست سره سره پکښې پند و نصیحت هم موجود دے۔ دا کۀ یو اړخ ته د خوشحال بابا د وسیع مطالعې غمازي کوي نو بل اړخ ته د خوشحال بابا کمالِ فن هم دلالت کوي۔ په لاندې کرښو کښې د خوشحال بابا د قصائدو نه د دې صنعت یعني صنعتِ تلمیح څۀ نمونې وړاندې کولے شي۔

په قصیده "پاک الله ته" خوشحال بابا الله تعالي ته داسې مخاطب کیږي چې د کائینات د جوړښت واقعې ته پکښې اشاره شوې ده:

"مزکـــه ســـبعَ ســـمواته، دواړه کونـــه کائیناتـــه
واړه تـا ګښـې پیـدا کـړل، بـې د نـورو لـه مـدده"11

په دې شعر کښې خوشحال بابا د کائیناتو د تخلیق په حقله د قران پاک دې ایت ته اشاره کړې ده چې:

"هُوَ الّذي خَلَقَ لَکُم مَا فِي الاَرض جَمیعاَ، ثُم استَوي اِلَي
السَمَاء فَسَوّ هُنّ سَبعَ سَمَوَات، وَ هُوَ بِکُلِّ شَي ءِ عَلِیم۔"12

هم په دې مذکوره قصیده کښې خوشحال بابا د حضرت بلال (رض) متعلق یوې بلې اهم او تاریخي واقعې ته هم اشاره کړې ده چې د صنعت تلمیح غوره نمونه ده:

"تـهٔ پوښـتنه کـړې لـه حالـه، چـې حـال ښـهٔ وو تـر قـال
د بـلال اسـهد قبـول شـهٔ، د دیـو نـورو لـه اشـهده"13

په دې شعر کښې د لفظ " اسهد " د وضاحت په ضمن کښې ډاکټر یار محمد مغموم د خوشحال بابا د کلیاتو په فرهنګ کښې لیکي:

"حضرت بلال (رض) د رسول کریم صلي الله علیه واله وسلم خصوصي موذن وو ـ د افریقي د باشنده کېدو په وجه به هغوي د "شین" په ځاے "سین" وئیلو او ځکه به یې د "اشهد" په ځاے "اسهد" ادا کولو۔ لیکن سره د دغه لکنته چونکې د هغوي نیت او عمل پاک وهٔ نو د هغوي "اسهد" د "اشهد" په مقابله کښې مقبول اوګرځېدو۔"14

خوشحال بابا په خپله یوه قصیده "د رسولِ پاک په صفت کښې" د حضرت محمد صلي الله علیه وسلم د مدحې په ضمن کښې لیکي:

"راشـــه نظـــر اوكـــړه پـــه طـــه پـــه ياســـين بانـــدې
خــدا ے د ے صــفت كــړ ے پــه قــران د محمــد (ص)"15

هم په دې قصيده كښې كۀ خوشحال بابا د حضرت موسي عليه السلام د رودِ نيل په مېنځ د بېلولو معجزې او واقعې ته اشاره كړې ده نو د دې سره سره يې د حضرت محمد صلي الله عليه وسلم د "شق القمر" واقعې او معجزې ته هم اشاره كړې ده ـ خوشحال بابا په دې شعر كښې كمال دا هم كړ ے د ے چې دوۀ اهمې تاريخي واقعې او معجزات يې په يو شعر كښې رابند كړي دي:

"شـــط د رودِ نيـــل كـــۀ د موســـي پـــه حكـــم اوشـــو
شـــق د قمـــر اوشـــو پـــه فرمـــان د محمـــد (ص)"16

د حضرت محمو صلي الله عليه وسلم متعلق په يوه بله قصيده "د رسولِ پاک په صفت كښې" كښې يې هم د "شق القمر" دغه تاريخي واقعه داسې رابنده كړي ده:

"پـــه معجـــز يـــې د قمـــر كمـــر دوۀ نـــيم كـــړو
پـــه اعجـــاز كښـــې كـــۀ فـــولاد و چاتـــه مـــوم دي"17

هم په دې قصيده كښې يې د اسلامي تاريخ يوې ډېرې دردوونكې يعني د كربلا پېښې ته داسې اشاره كړې ده:

"پـــه يزيـــد بانـــدې لعنـــت شـــۀ پـــه اعـــوان كښـــې
چـــې پـــه تېـــغ يـــې د نبـــي (ص) نمســـي مظلـــوم دي"18

د اورنګ زېب نه فرياد" نومې قصيده کښې يې د قربِ قيامت او فتنهِ دجال واقعې ته داسې اشاره کړې ده:

"دغـــه يـــو خـــو کالعـــدم دے پـــه معنـــي کښـــې
دغـــه بـــل د دجـــال خـــر دے يـــا دجـــال"19

هم په دې مذکوره قصيده کښې يې د حضرت يوسف عليه السلام سره د خپلو ورونړو د ناروا سلوک، د کنعان کوهي ته د غورځولو او بيا د هغوي د بادشاه کېدو واقعات داسې په شعر کښې رابند کړي دي:

"خپلـــو ورونړـــو يوســـف واچـــوو کـــوهي تـــه
مشـــرف شـــو دے پـــه جـــاه او پـــه جـــلال"20

هم په دې مذکوره قصيده کښې د بخت نصر د ظلم، د حضرت دانيال عليه السلام د قيدي کېدو واقعات د خپل ځان او خپلو واقعاتو سره داسې ترلي:

"دۀ پـــه لاس د بخـــت نصـــر ظلـــم واخســـت
زۀ د دۀ لـــه لاســـه بنـــد لکـــه دانيـــال(ع)"21

حجاج او يزيد په تاريخ کښې د ظلم، جبر او مکر و فريب په حواله د علامتونو په حېث پېژندے شي ـ هم په دې مذکوره قصيده کښې خوشحال بابا اورنګ زېب عالمګير د ظلم او مکر په صفتونو کښې د حجاج او يزيد نه هم زيات ښودلے دے ـ دلته کۀ خوشحال بابا د ظلم، جبر او مکر و فريب په حواله د حجاج او يزيد تاريخي واقعاتو ته اشارې

کړي نو بل خوا يې اورنګ زېب عالمګير په مذکوره معاملاتو کښې له دوي څخه نور هم مستعدي ښودلې دے:

"يــو پــه ظلــم، يــو پــه مکــر، نــور ځــوک نيشــته
کــــۀ حجـــاج وي کـــۀ يزيـــد وي د دۀ ســـيال"22

"د مغل په بند کښې د ارماني زړۀ فرياد" نومې قصيده کښې د خپلو حالاتو ذکر کولو په ضمن کښې يې د حسېن بن منصور حلاج واقعې ته داسې اشاره کړې ده:

"نـــوره واړه پښــــتونخوا پـــه ځـــا ے مېشــــته ده
خـــو يـــو زۀ دې زمـــانې پکښـــې منصـــور کـــړم"23

"مشران او ځان ستائيل او د جېلخانې نه فرياد" نومې قصيده کښې يې د حکمتِ لقمان عليه السلام واقعې ته څۀ داسې اشاره کړې:

"کـــۀ مـــــې اولوســــتل وَ دۀ تــــه
کتابونـــــــــه د لقمـــــــان"24

"د خپلو زامنو نه فرياد" نومې قصيده کښې د ابو لهب واقعې ته داسې اشاره کوي:

"چـــې نصـــيب د بولهـــب وو نـــور څـــۀ نـــۀ شـــو
محمـــد (ص) کـــۀ نصـــيحت کـــړو يـــا تـــدبير"25

هم په دې مذکوره قصيده کښې د حضرت عيسي عليه السلام تاريخي معجزې ته څۀ دا رنګ اشاره کړې ده:

"عیسی(ع) یو نادان هوښیار نهٔ کړو په عمر
کهٔ راژوندي کړي په نَفَس شول ډېر بصیر"26

هم په دې مذکوره قصیده کښې یې د ابو جهل "جهل" او د ابو لهب "خصلت" ته داسې اشاره کړې ده:

"محمد(ص) د ابوجهل خوئي نور نهٔ کړو
نهٔ خصلت د بولهب بیامونـد تغیر"27

"د خپلو زامنو نه بېزاري" نومې قصیده کښې د مال او اولاد د فتنې سره سره د خپلو زامنو دا نافرمانۍ تاریخي واقعاتو ته هم اشاره کړې ده۔ په دې حقله خوشحال بابا لیکي:

"مال، اولاد دواړه فتنه دي په جهان کښې
په دا دواړه به زړهٔ نهٔ تړي هوښیار"28

د خوشحال بابا په دې شعر کښې د قران کریم دې ایت ته اشاره شوې ده:

"وَاعلَمُوا انّمَا اَموَالُکُم وَ اَولادُکُم فِتنَتهُ "29

خوشحال بابا په خپله یوه قصیده "بهرام ته" کښې خپل ناخلف ځوي بهرام ته داسې مخاطب شوے چې د "عمرِ خضر" تاریخي تلمیح یې شعر ته راننوتې ده:

"کهٔ دې زړهٔ وي چې به پائي لکه خضر
د نیکۍ نوم ژوندے دے تل مدام"30

د دنیا حال" نومې قصیده کښې د "تختِ سلېمان" ، "جامِ جمشېد" او سکندر، دارا، آصف،جمشېد، قباد ، کسرا او برخیا غوندې مهمو تاریخي کردارونو ته داسې اشاره کوي:

"نــــــهٔ ســــــلېمان وو نــــــهٔ یــــــې تخـــــت وو
نـــــــــهٔ آصــــــــــــف د برخیـــــــــا
نـــــــهٔ بهــــــــرام وو نـــــــهٔ ګـــــــورو وو
نـــــــهٔ ســـــــــکندر وو نـــــــــهٔ دارا
نـــــهٔ جمشـــــــید وو نـــــهٔ یـــــې جـــــام وو
نــــــــهٔ قبــــــاد وو نـــــــهٔ کســـــــرا"31

په دې قصیده "صرف اصیله ښځه اصیل اولاد راوړي" کښې خوشحال بابا د حضرت اباهیم علیه السلام او حضرت اسماعیل علیه السلام دحکمِ تعمیل تاریخي واقعې ته داسې اشاره کوي:

"ابـــرهیم(ع) چـــې اســـماعیل(ع) تـــه تېـــغ تیـــار کـــړو
اســـــماعیل(ع) اِبـــا اونـــهٔ کـــړو پـــه دا چـــر"32

"د نظام په وفات" خوشحال بابا په خپله مرثیه نما قصیده کښې د حضرت اباهیم علیه السلام او حضرت اسماعیل علیه السلام دحکمِ تعمیل تاریخي واقعې ته داسې اشاره کوي چې د خپل ذات او خپل ځوي د تعلق سره یې معلّق کوي:

"اســـماعیل(ع) غونـــدې بـــه دې راتـــه تســـلیم وو
کـــهٔ پـــه حلـــق مـــې د نظـــام کېښـــوه ګزلکـــه"33

د دنيا بې ثباتي او بې وفائي" نومې قصيده کښې يې د سنجر او طغرل شان تاريخي کردارونو ته داسې اشاره کړې ده:

"په دولت کښې، په حشمت کښې، کۀ سنجر شي طغرل شي
يـوه نخښـه راښـکاره کـړه لـه سـنجره لـه طغرلـه"34

د خپلې عقيدې، مشرانو او مړانې په باب کښې" ليکلې قصيده کښې خوشحال بابا د اورنګ زېب عالمګير له قېده د خلاصېدو او کامرانه کېدو واقعه د حضرت يوسف عليه السلام د قېد نه خلاصېدو او کاميابېدو سره داسې تړي:

"زۀ لکـه يوسـف لـه بنـده خـلاص شـوم کـامراني کـړم
پـاک پـاکيزه زر ووم اور مـې نـۀ کـړه بهـا کمـه"35

الغرض خوشحال بابا يوه همه ګير او نابغه شحصيت وو ـ د هغوي په شاعرۍ کښې اړخيز مواد موجود دي ـ د غه مواد هغوي د موقعې په مناست سره په خپله شاعرۍ کښې مخې ته راوړي دي ـ د دغې تلميحي اشاروتو برمحل استعمال کۀ يو اړخ ته د خوشحال بابا پراخه مطالعه ښکاره کوي نو بل اړخ ته د خوشحال بابا هنر کاري او فن کاري هم په ګوته کوي ـ د مختلف صنعتونو په برمحل استعمال سره خوشحال بابا خپل کلام ته لفظي او معنوي ښائيست بخښلے دے او خپل کلام يې په دې ممتاز کړے دے ـ

# حوالې


1. کاکاخېل، تسنیم الحق، سید ، روحِ ادب، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ۱۹۷۷ء، ص: ۹۸
2. مجروح، مشتاق یوسفزے، زرکاڼے، تاج کتب خانه پېښور،جون ۱۹۹۸ء، ص: ۴۹
3. هم دغه اثر، ص: ۵۰
4. کاکاخېل، تسنیم الحق، سید ، روحِ ادب، ص: ۱۳۸
5. مجروح، مشتاق یوسفزے، زرکاڼے، ص: ۷۲
6. شائق، ساجد محمد ، څرګنده خزانه (اوله برخه)، پښتو ادبي ټولنه تحصیل تخت بائي ضلع مردان، جون ۲۰۱۵ء، ص: ۳۰۹
7. فېض، فېض الوهاب، ادب او تنقید ، د ادبي دوستانو مرکه مردان ، ۲۰۱۳ء ، ص: ۱۱۸
8. ارمغان خوشحال، مرتب: سید رسول رسا ، یونیورسټي بک ایجنسي خېبر بازار پېښور، ۲۰۰۹ء، ص: ۷۵۴
9. د خوشحال خان خټک کلیات، مرتب: عبدالقیوم زاهد مشواڼي، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۸ء، ص: ۵۲۳
10. د خوشحال بابا کلیات، مرتب: ډاکټر یار محمد مغموم، یونیورسټي بک ایجنسي خېبر بازار پېښور، ۲۰۱۲ء، ص: ۱۵۸
11. هم دغه اثر، ص: ۱۴۸
12. القران الکریم، سوره البقره، ایت: ۲۹
13. د خوشحال بابا کلیات، مرتب: ډاکټر یار محمد مغموم، ص: ۱۴۹
14. هم دغه اثر، ص: ۱۳۲۰
15. هم دغه اثر، ص: ۱۵۰
16. هم دغه اثر، ص: ۱۵۰
17. هم دغه اثر، ص: ۱۵۳
18. هم دغه اثر، ص: ۱۵۳
19. هم دغه اثر، ص: ۱۷۲
20. هم دغه اثر، ص: ۱۷۳
21. هم دغه اثر، ص: ۱۷۳
22. هم دغه اثر، ص: ۱۷۳
23. هم دغه اثر، ص: ۱۷۸
24. هم دغه اثر، ص: ۱۸۷
25. هم دغه اثر، ص: ۱۹۱

26. هم دغه اثر، ص: ۱۹۱
27. هم دغه اثر، ص: ۱۹۱
28. هم دغه اثر، ص: ۱۹۷
29. القران الکریم، سوره الانفال، ایت: ۲۸
30. د خوشحال بابا کلیات، مرتب: ډاکټر یار محمد مغموم، ص: ۱۹۹
31. هم دغه اثر، ص: ۲۰۱، ۲۰۲
32. هم دغه اثر، ص: ۲۱۸
33. هم دغه اثر، ص: ۲۱۹
34. هم دغه اثر، ص: ۲۲۰
35. هم دغه اثر، ص: ۲۲۳